طاہر

مدیر : محمد قدیر « تره کی »
ادرس : پښتو ټولنه، د « ابن سینا » وات
تلګرافی عنوان : کابل ، انجمن
ټوله لیکونه و ع،ص عبدالحی خان حبیبی
د پښتو ټولنی عمومی مدیر او د مطبوعاتو
د ریاست معاون ته کېږی .

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجله)
(ادبی ، اجتماعی ، تاریخی)
د پښتو ټولنی د صحافت له څانګی
څخه خپرېږی

اشتراک
کابل : ۲٤ افغانی
دننه مینه ۲٦ «
د باندی ۱ انګلیسی پوند
د لوستجو لوستونکو ته ۱٤ افغانی

۱۱ کال . . . جوزا د میاشتی می ۱۳۲۰ - ۱۹٤۱ ع ؛ (۳) ګڼه

د دې ګڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
شاعر مبتکر مای	ښاغلی « حبیبی »	۱
آیامیشود سعادت حقیقی راسراغ کرد ؟	« محمدرسول خان	٤
دپسرلی ګله	« « الفت »	۷
صحافت اوثقافت	ترجمهٔ « عزیزالرحمی خان	۸
پخوانی آثار او ودانی	« « نظامی »	۱۲
دپښتانه سندره	« « مخلص »	۱٤
نوی شاعر	« « بینوا »	۱۵
مینه	« « رشتین »	«
دوطن خاوری ته یوږغ	« « نوری »	۱٦
سوز دل شاعر	« « آئینه »	۱۷
غزل	« « ملزم »	«
نغمهٔ عشق ومرګ	ترجمهٔ « « صدقی »	«
خدائی غاړوی	« « ایازی »	۱۸
ښکلی ګلونه	« « « پردیس »	۱۹
رحم	« «	۲۰
ددنیا مینه	« «	«
ملاحسن اسحاق زی	« « حبیبی »	۲۱
دپښتو معنوی مزایا	« « بینوا »	۲۳
دغالی اوبون کلمی	« « رشتین »	۲۵
غرزی	ترجمهٔ « سلطان محمد خان	۲۸
چاپخانه څنګه اختراع شوه	« « کښکی »	۳۳
لوی احمدشاه بابا	« « تره کی »	۳٦
پښتولغتونه	« «	۲۷
مجلهٔ پانګه	« «	۳۸
درامه نویسی	« « میرامان الدینخان »	۳۹
فکاهیات ومعما		مقابل ٤۰
تصاویر (٤) قطعه		

KABOUL

Revue mensuelle scientifique,historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 123 Mai

اعلانات

سالنامه‌های کابل

۱	سالنامه سال اول سنه ۱۳۱۱	در کابل	۳ونیم	افغانی	در ولایات	٤ افغانی	در خارج سه کلدار
۲	« « دوم سنه ۱٤۱۲	«	٦ «	«	۷		ده شلنگ
۳	« « سوم سنه ۱۲۱۳	«	٥ونیم«	«	٦ونیم «		«
٤	« « چهارم سنه ۱۳۱٤	«	٦	«	٦ «		«
٥	« « پنجم « ۱۳۱٥	«	٤	«	٤ونیم «		«
٦	« « ششم « ۱۳۱٦	«	۱۰	«	۱۲ «		«
۷	« « هفتم « ۱۳۱۷	«	۱۸	«	۲۱ «		«

کلکسیون های مجلهٔ کابل

کلکسیون‌های سال‌اول ودوم وسوم فی‌جلد در کابل ۱٤ ، درولایات ۱٦ افغانی‌درخارج ده‌شلنگ

٦ کلکسیون های سال چهارم وپنجم وششم مجلهٔ کابل یکدورهٔ آن در دوجلد قیمت آن در کابل ۱۷ افغانی ، در ولایات ۱۸ افغانی ، در خارج ده شلنگ .

کتبیکه در انجمن برای فروش حاضر است

۱ـ	شرح حال سید جمال‌الدین افغان	در کابل		۷٥ پول
۲ـ	منتخبات بوستان	« «	۲ افغانی	۳٦ پول
۳ـ	آثار بودائی بامیان	« «	۳ «	۲٥ «
٤ـ	سخندان فارس	« «	۳ «	
٥ـ	شعر العجم	« «	۲ «	
٦ـ	آثار عتیقهٔ کوتل خیرخانه	« «	۱ «	
۷ـ	صنعت باختر (بفارسی وفرانسه)	« «	۱ «	
۸ـ	فضیلت	« «	۲ «	
۹ـ	مسکوکات قدیم افغانستان	« «		۷۰ پول
۱۰ـ	خواطر قهرمان کبیر	« «	۱ «	٤۰ «
۱۱ـ	د کچنیانو اخلاقی پالنه	« «	۱ «	
۱۲ـ	بگرام	« «	۱ «	۱۰ «
۱۳ـ	نیکبختی	« «	۱ «	٦ «
۱٤ـ	د پښتولیك ښوونکی	« «	۲ «	
۱٥ـ	پښتو متلونه	« «	۱ «	۲۲ «
۱٦ـ	امپراطوری کوشان	« «		۹۰ «
۱۷ـ	پښتو ازنقطه نظر فقه اللغه	« «		۸۰ «

مقارنه و موازنه

شاعر مبتکر ملی

بناغلی عبدالحی خان «حبیبی»

مکتوب یکی ازخوانندگان (کابل):

بمقام محترم پښتو ټولنه! دریکی ازشماره‌های گذشته راجع به‌مقام ومنزلت‌رفیع شاعر بزرگ پښتو خوشحال‌خان چیزی نگاشته بودند، چون نگارش مذکور، مختصر وکوتاه بود، تمناست آن انجمن محترم موضوع را قدری مفصل ومشرح بنویسد، تامورد استفاده واقع گردد، وهم آن رادمرد بزرگ ملی خوبتر بمردم معرفی شود.

قندهار. (م، ر).

جواب:

بناغلی نویسندهٔ مکتوب!

موضوعیکه‌شرح آنرا خواسته اید، خیلی‌مهم‌ودلچسپ بوده، واز اهمترین مباحث ادبی زبان ملی بشمار میرود، زیراکه خوشحال‌خان مرحوم دربین‌ادباء وشعرای پښتو، یکی ازبهترین وبرجسته‌ترین رجال‌ملی‌ومفاخر ادبی‌ماست، که‌میتوان وی را بزرگترین شعرای پښتو دانست!

خوشحال خان حق‌دارد، بااشعار سلیس وروان و شیرین خود، سرامدادباء وشعرای پښتو بشمار رود، و همچنان ازنقطهٔ نظر فلسفه و اصول تفکر خویش مبتکر و قهرمان بحساب می‌آید!

وقتی ما غزلیات چون آب روان این نابغهٔ ملی را میخوانیم، بابداعت وسلاستیکه دارد، یاد غزل شیراز وخجندرا ازخاطر ما می‌برد (۱).

هنگامیکه قصائد برجسته وبدیع حماسی وی‌را میبینیم حماسیات امرءالقیس وفصحای عرب‌راتحت‌الشعاع قرارمیدهد! حینیکه مضامین اجتماعی وبهترین افکار فلسفی در لف اشعار ورباعیات شیرینش بنظر می آید، فلسفهٔ ابو العلاء وخیام را فراموش میکنیم!

وقتی بااحساسات تند وگرم ملی، از مزایای جهان ملیت، وعلویت مقام «پښتنوالی» نغمه سرائی میکند، ویا باشمشیر آخته، درمیدان دفاع ملیت، وحفظ شئون ملی می‌ایستد، آنگاه ماوی را:

«قهرمان‌ملی، وپهلوان‌ملیت» می‌نامیم، ودرین مرتبت ومقام وی را فرد فرید می‌یابیم!

زیرا شعرای حماسه سرای دیگر، غالباً اشخاصی بودند، که میدان نبردرا نادیده‌ستوده وتصویب کرده‌اند، ولی این رجل بزرگوار ملی ما عملاً هم شخص سلحشور وجنگجوئی بود، ومظهر حقیقی «روح‌ملی» بشمارمیرفت!

تاکه دنیای ملیت معمور است، تاکه پښتون و پښتو زنده است، این مرد ملی هم زندهٔ جاویداست، وروحش نمی‌میرد، ونسل جوان آنرا تقدیر خواهد کرد!

خوشحال‌خان شاعر مبتکر است، شاعر سخن آفرین است، شاعریست‌که‌نیروی سخنوری، ومضمون‌آفرینی‌وی، همچون روح پښتنی اش قوی ومحکم است!

درموقعیکه میخواهدباپزرگترین ونیرومندترین ادباء وشعرای ملل‌دیگر همسری ومسابقه کند، مردانه می‌ایستد ومبتکرانه سخن‌میگوید! مضامینی‌را می‌آفریند، که‌دیگران نیاورده‌اند، نغمهٔ رامی‌سراید، که‌رنگ نوی دارد، وقریحهٔ مقتدر ونیرومندش ازتقلید بیجا خود داری میکند!

خوشحال خان پهلوان وقهرمان بزرگ ملی ماست، درفکر وفلسفه وشعر وسخنوری، ودفاع ازملیت ووطن

---

(۱) په تازه تازه مضمون دپښتو شعر
په معنی می دشیراز او دخجند کړ
(خوشحالخان)

خود ، نابغه وژنی است !

درشعر پښتو ونثر نویسی آن مؤسس مکتب مخصوصی است ، چهل تاپنجاه هزار بیت‌شعر که ازومانده ، و چندین جلد کتب دیگری که درنثر پښتو نبشته یگانه مؤسس سبك ومکتب خویش شمرده میشود !

شاعریست که‌هرگونه مضامین‌اجتماعی، فلسفی، اخلاقی، مدح ورثاء ، هجو وحماست ، وظرافت وفکاهت ، و تمام جنبه های ادب‌را می‌توان درشعر شور انگیز وبدیع وی یافت ! برای‌تمثیل روح ملی، صحنهٔ بهترومفصلتر ازاشعار وسرودهای دل انگیز این هیروی ملی نیست !

این نگارش وگفتارمن گزاف نیست ، برای اثبات وتفصیل مطلب خود مثالی را می‌آورم ، وبه‌موازنه و مقارنهٔ کوچکی می‌پردازم :

ابوالعلاء معری شاعر زبردست و فیلسوف عرب که دربین (۳۶۳ ـ ۴۴۹ه) می‌زیست ، ازفحول ادب‌وفلسفهٔ عرب است ، این شاعر نامور بهترین ممثل فکر عصر ومحیط خویش است !

اندر بهاران خرم ونشاط انگیز یکه ازخاك تیره ، گل‌های قشنگ می‌روید ، وجهان کهن‌را تازگی وطراوت می‌بخشد ، کسانیکه ازمظاهر فطرت حظ می‌برند وبچشم ظاهر بین مناظر طربناك بهار را می‌بینند ، البته گل، چمن ، سبزه ، ریاحین را می‌ستایند .

ولی چشم ونگاه شاعر فیلسوف درماورای این جمال ظاهری چیز دیگری را می‌بیند ، وی فکر میکند ، این خاکیکه گل قشنگ ازان رسته ، واین گل‌تیره که‌دنیای جمال وزیبائی‌را آراسته ، امروز خاك وگلی بیش نیست ، ولی دیروز لب وروی لاله روئی بوده ، و بااین منطق شاعرانه پند میدهد ، که نباید برین خاك به‌بی‌باکی پای نهاد ، ونباید ، سر وروی اجداد را لگد کوب نمود ، معری شاعر وفیلسوف عرب راست .

صاح هذی قبور ناتملا ال
رجب فأین القبور من عهد عاد
خفف الوطء ما اظن ادیم ال
ارض الامن هذه الاجساد
و قبیح بنا وان قدم العهد
وهوان الاباء والاجداد

یعنی « پای خودرابخاك آهسته بگذار ، که‌این‌خاك همان پیکرهای اجداد وپدران است .»

عمرخیام همان‌شاعروفیلسوف معروف، هم همین فکر راکه‌ابوالعلاء چندقرن پیش‌ازوی بمیان آورده بود، چنین بسته :

هرسبزه که برکنار جوئی رسته است
گوئی زلب فرشته روئی رسته است
تابرسر سبزه پا بخواری ننهی !
کان سبزه زخاك لاله روئی‌رسته است

فکرهمان فکراست که‌شاعر عرب پرورده وبوجود آورده است ، ولی خیام آنرا به تعبیریکه عصر و محیط پرورش شاعر تقاضا داشته ، در آورده است ! . . . . عربها به‌آباء واجداد خود بستگی وعقیدت داشتند ، عصر خیام ومحیط زندگانیش به‌جمال وزیبائی گرویده بود .

سعدی که ازبزرگان ادب‌پارس‌است، نیزهمین‌فکررا که‌ابوالعلا وخیام گفته بودند طوردیگربرشتهٔ نظم کشیده ولی‌فرق همین قدراست، که سعدی کیفیت واقعه‌رابصورت نوی تصویروبعدازان همان‌نتیجه‌را گرفته است ، که دیگران گرفته بودند، اندر گلستان گوید .

زدم تیشه یکروز برتل خاك
بگوش آمدم نالهٔ درد ناك
که زنهارا گرمردی آهسته تر
که چشم‌و بناگوش‌ورویست‌وسر

باین‌صورت اگرپیش ازبوالعلاء، کسی درین مرحله وارد نشده باشد، میتوان گفت که‌شاعرعرب مبتکر است وخیام وسعدی پیرو !

شاعرعرب مضمون آفرید ، ودیگران آنرا رنگ‌نو وزیبائی‌بخشیدندشعرای متأخر، نیزاین مضمون را پیروی وهمان فکررا عیناً بقالب نوریخته، وبیرون کشیدند ادیب نامور هند غالب دهلوی راست .

سب کهان .... کچه لاله وگل نمایان هوگئین
خاك‌مین کیاصورتین هونگی که‌پنهان هوگئین

یعنی : پیکرهای زیبائی که بخاك رفته اند، اکنون پس ازخاك بشکل لاله وگل برمی آیند .

عبدالقادر خان خټك فرزند خوشحال خان هم عیناً همین مضمون‌را دریکرباعی گفته توانسته، وازعهدهٔ آن‌هم

بخوبی برامده است ، آنجا که گوید .

چه پکښ یښی ښه صو رتو نه دی
ځکه له مځکی ښکاره گلو نه دی
قدم په وروورو په احتیاط ږده
چه توری خاوری ښکلی مخو نه دی

این بود نمونهٔ اشعار ادبائی که درین مرحلت قدم گذاشته ، و دریك مضمون به اطوار و اصولی گو نا گون چیزی گفته ویك نتیجهٔ را از اشکال مختلف گرفته اند .

سعدی درشیراز، وخیام درنشاپور ، وغالب در دهلی وعبدالقادر در کوهسار خټك، فرسخها دور از خاك عرب همان فکر را پیروی کردند ، ولی نتوانستند یانخوا ستند که درین مورد بافکر نوینی واردشوند، ویاچیزی را بگویند که گذشتگان نه گفته اند ،

تنها یك نفر قهرمان فکر وادب وشمشیر پښتون مرحوم خوشحال خان خټك درین مرحله بافکر نوی وارد شد وتوانست ازهمسران خود سبقت جوید، واز کوهسار خود الهام بگیرد، وابتکاری کند که دیگران مؤفق نشده باشند!

مرگ درنظر بشریت شبح سیاه وهولنا کی است ، که همواره گلوی وی را می فشارد، وتصور آن برای اشخاص دهشت انگیز ومخوف است !

دردنیا نوابغی بوجود می آیند، که این سانحهٔ عظیم راباخونسردی تلقی میکنند ، آنهانمی ترسند ، وباآغوش بازمرگ را استقبال می کنند .

چنین اشخاص دردنیا مصدر کارهای بزرگ می شوند ودرمیدان فدا کاری باقلب قوی جانبازیها می نمایند .

خوشحال خان هم از دستهٔ همین رجال بزرگی است که سالها برای حفظ نوامیس ملی جنگید، وادب خودرا به احساسات شور انگیز ملیت، وجهد و جانبازی در راه نگهداری آن، رنگ ملی وپښتنی داد، وتوانست که شعروی را «شعرملی» بگوئیم ، وشخصیت بزرگ وی را بحیث «قهرمان ملی» بشناسیم. زیرا در اشعارش تماماً روح ملی مجسم، وافکار وحسیات پښتنی مضمراست، وهمواره ازمقام منیع ملیت می سراید، وازرفیع ترین و شامخ ترین مواقع پښتو نیت حکایه می فرماید .

خوشحال خان پښتون است، ولی مثل اعلای پښتو نیت ! شاعراست، اما شاعر پښتون .

بنابران چیزهائی را که میخواهد بگوید، ومضمونی را که میخواهد دراشعار خودبسراید، اولاً از روح ملی خود الهام میگیرد ، بعد ازان بامنطق شاعرانه وقریحهٔ آبدار وتابناك خود انرا رنگ شاعرانه میدهد !

شجاعت ودلاوری ازمزایای ملی ماست، خاك پښتون به آب شجاعت وحماست تخمیر شده ، بنابران پښتون در مواقع ننگ وغیرت ،درموقع حفظ شئون ملی ،درمورد دفاع ازملیت وپښتونیت درموقع جانبازی درراه وطن وخاك خود، هیچ ازمرگ نمی ترسد، ولی خوشحال خان که رادمرد ملی است، این روح ملی را بامنطق وآب وتاب شاعرانه رنگی داده ، که مرگ راخیلی زیبا، ودلچسپ می سازد :

وی گوید که درین خاك بسی از لاله رویان قشنگ نهفته اند ، جمال وحسن درین خاك دفن شده، پس وقتیکه من میمیرم، وبه این خاك سپرده میشوم، مدفن وآرامگاه من بمنزلهٔ باغ ارم است ، که دران حسن و جمال را تماشا خواهم کرد .

چه هو نیره ښه مخو نه
په دا خاوره کښ په گوردی
چه دیو لر وره درو مم
گورو ما و ته ارم دی

ببینید که این شاعر مبتکر درین مضمونیکه شعرای ملل دیگر هم دران قریحه آزمائی کردند، باچه تردستی وابتکار واردشد ؟

درعین اینکه روح ملی خودرا درین بیت با کمال مهارت واقتدار نهفت، زمینهٔ نوی را هم برای خودومقصد ملی خودآفرید ، وتوانست که بابداعت ونوی سخن گوید وبدیگران پیروی نکند ، ونه مضمون مبتذل و فر سودهٔ دیگران را استعاره نماید .

این بود یك مثال بسیار کوتاه از ابتکار ها و مضمو ن آفرینی های شاعر بزرگ ما مرحوم خوشحال خان خټك که با موازنهٔ مختصر ی آورده شد ، و شاید این یك گوهر گرانبها، برای نمایش لآلی آبدار اشعار نفیس این شاعر مبتکر ملی کافی باشد .

ورنه :

همیشه به پرې ناري وی د بلبلو
داچه ساز کړنن خوشحال په ویل باغ

کابل . ده افغانان ۱۰ ثور ۱۳۲۰

اجتماعیات

آیا میشود سعادت حقیقی را سراغ کرد؟

بناغلی پښتون محمد رسول خان قندهاری

درمقابل این سوال وهلهٔ سوال دیگری پیدا میشود که سعادت خود چیست ! پس برای آنکه موضوع روشن شده وبحیث حکمیت علمی امتیاز خودرا از حکمیت ذوقی حاصل نماید ذیلاً داخل بحث میشویم :-

این مطلب ازبدو انسان اولیهٔ که هدف آمال قرار گرفته وتادم حیات انسان آخری دوام خواهد کرد طبعاً یك مسئلهٔ نهایت پیچیده آمده واغلباً علاقهٔ مهمی با فلسفهٔ حیات میرساند که آن خود درنزد دانشمندان عصری قضیهٔ لاینحل بوده وبطور یقین بران حکم نشده است ، غرض این است که دراطراف این موضوع قیل وقالی زیاد بعمل آمده تابالاخره صدایی آهنگ شده، بعد ازانکه سعادت راتکمیل احتیاجات ، ویاترك آنهانامیده ودرنتیجه مقصود این وآن که عبارت ازیك خوشی مطلق بوده بحصول نه انجامیده است برموهوم بودن آن اعتراف کرده ویامجبوراً بخوشی آنی ، ونسبتی اکتفا کرده‌اند - بهر کیف درینباره روی همرفته باعقائد ذیل برمیخوریم : کسانیکه بوحدت علاقه‌مند اند این دسته اشخاص برحکومت روح قایل بوده چون روح مجرد است آنها سعادت را درتجرید دانسته بداوت را بسعادت قریب‌تر ، وسعادت‌را درتجرید وعدم پابندی علائق ، ویابعبارت جامع تر دربرتری مادیات میدانند دستهٔ دیگری که درمادیات توغل کرده وبرتکمیل احتیاجات عقیده دارند اینچنین اشخاص کثرت را منبع سعادت شمرده بطور مطلق مدنیت ، وقسمت انتهای آنرا سعادت میشمارند - برعکس یك جنبهٔ دیگری که حقایق امورراً اعتباری میدانند چون اعتبارات همیشه‌تحت قانون تبدل است ازانرو متردد شده بالاخره سعادت‌را یك‌امر وهمی تصور میکنند - خلاصه هر کدام ازدسته‌های مذکور نظر بتناسب شان باروح وماده ویابا قتضای غلبهٔ آنها اظهارات مختلفی را کرده اند که اینك مختصراً بشرح آنها پرداخته میشود :-

تودهٔ اول که برخلاف کثرت بوده ومیخواهنداز نشاط روحی محظوظ باشند آنها عقیده دارند که‌درتمام موجودات یك‌قوهٔ غالبه ، وخفی موجود است که‌باعث اینهمه گردشها، تکانها ، ویابه‌دیگرعبارت اینهمه افتراقها واتصالها بوده ونظر بموارد مختلفه عناوینی را دارا وبمیل ، جاذبه ، عشق وغیره ازوتعبیر شده است، این قوه وقتیکه درعنصر الحمل (که انسان است) ازراه ذوق و احساحات حلول میکند حقیقت خودرا بیشتر، وواضح‌تر نشان‌داده وبحیث حاکمیت مطلق بنام آرزو ، محبت ، صمیمت خودرا جلوه‌گر میسازد جای تردیدی نیست که درواديهای تاریك وپرپیچ زنده گی چیزیکه انسان‌راباشهامت، وجرأت باستقبال‌متاعب ومشکلات حیاتی وادار ساخته وبادارا بودن اینقدر توانائی وقدرت اورا نسبت بموجودات دیگر حاکمیت ، وامتیاز می بخشد منشاء آن همان میل ، ویاعشق است که‌بطور کلی سعادت هم وابسته به تکامل آن است وبس ؛ پس از ینجاست که مراتب عشق ، وصمیمت هرقدر خالص ، وباروح اعتماد ، وخلوصیت ممزوج باشد بهمان اندازه روح‌مانیز ازسعادت حقیقی منبع گرفته ودرصحنهٔ تاریك زنده‌گی متجلی میشود وباستعانت این‌نور ، وتجلی بسهولت مخاطر ظلمت‌را عبور کرده برندگانی جاویدوصل‌میشویم ، والابرعکس اگر هدف خودرا تغیرداده سعادت‌را درکثرت جستجونمائیم آنکه جای شك نیست که داخل زمینهٔ رقابت شده وباعتبار تماس منافع طبعاً مجبور بقیودات ، وتحدیدات لازمه شده روح اعتماد وصمیمت‌را درخود خفه میسازیم - چنانچه‌یك نظری‌را بماقبل انداخته دورهٔ صباوت‌را بنگریم که‌همان نشاط ویاروح آزادی را که‌درحال‌بداوت داشته و ازغبار

مدنیت شسته ، ومعصوم دریك جهان نورانی حیاتی را بسر میبردیم ، حالا نمیشود آن را دردورهٔ ما بعد (مدنیت) خویش سر اغ کر د ورو یهمرفته هرقدر در وغگو باشیم ازطرف مقابل بهمه حال صداقت را تقاضا داشته و یاوقتیکه خودما بصداقت منسوب شده وبر ما اعتماد میشو د ازان ـ راضی ، وخوشنود میگر دیم ، پس ازروی این مقد مات بخوبی ظاهر است که حالت بداوت بسعادت قریب تر بوده وبهر اندازهٔ که غبار نفع پرستی ، واحتیاجات حایل میشود بهمان پیمانه فروغ محبت واعتماد کم شده بشر داخل مرحلهٔ بدبختی میگردد ـ ودریك فضای لایتناهی بیهو ده دست وپا زده چیزی را میخواهد (سعا دت) که در ان نیست ، ومقصودی را میطلبد (مادیات) که ناپوره کردنی ، وتمام شدنی است .

دستهٔ دیگری که طرفدار کثرت بوده وازین ناحیه داخل استدلال میشوند آنها عقیده دارند که انسان نسبتاً کامل، وجاذبه ومیول اوهم کاملتر خلق شده حتی وظایف خلافت، که قسمت مهم آنها مربوط معاملات است بدوتفویض گر دیده دراینصورت غرایز ، وقواء جبلی او نیز مقتضی است که بطور کامل بکار افتاده منحصر ، و محدود نباشند یعنی همیشه مصروف اموراجتماعی بوده ودرطی این مراحل که اولین سرمنزل جلال ، وعظمت انسانی را قدم گذارده لباس خلیفة الله را دربرمیکند خوشبختی خویش رانیز دراکمال و ظا ئف اجتما عی جستجو کر ده باشد چنا نچه سعدی فرموده است :

سعادت بجز خدمت خلق نیست
به تسبیح و سجا ده ودلق نیست

وقول حضرت فخر کا ئینات علیه افضل التحیات که خیر الناس من ینفع الناس نیز بصراحت تائید اینمدعارامینماید، هر چند ذ کر نفع درینجا بطورمطلق است اما انصراف آن درقسمت کلی بازهم به نفع مادی بیشتر برمیخورد که برای تکمیل احتیاجات اساس قوی بوده ودرنتیجه طبعاً مدنیت را بار میآورد ـ با لعکس سستی ، وعطا لت که مثمر فوا ئد اجتماعی نیست هرگاه قواء انسان بدان عادی شده ودر مفاد شخصی استعمال شو ند یعنی در حال بداوت ما نده واصلاح نشوند اینگونه قواء باتفاق جمیع مسالك وادیان مفسدماده ومعنی بوده ازعظمت استعداد آنها کاسته میشود.

حالا باید ملا حظه کنیم که سعادت چگو نه در اثر انظاراعتباری قیافهٔ وهمی رابخود گرفته وحقیقت آن مشبوح میشود ـ فلاطون می گو ید انسان وقتیکه برا خلا ق عالیه وملکات فاضله دست یافته وازان محظوظ میشود برایش سعادت است ، این تعریف اگرچه نسبت به نظریات مطلقهٔ اعتباریون عمیق تر است مگرهنوز هم برای تحدید مراتب سعادت کفایت نمیکند چه به ملحوظ این تعریف درحالیکه فیلسوف مذ کور بریك حد معینی قائل نشده است ، پس معلوم میشود که سعادت هر کس نظر بادراك وزعم همان شخص بوده ودرحالیکه ادراك نیز باختلاف حال، وزمان تغیر خوردنی است البته یك استناد قوی بآن شده نمیتواند. چنانچه فیلسوف مشهور فرانسه گوستا لوبون می گوید : خطا ها پیهم تعقیب میکنند وقتی خوا هد آمد ازینکه حالا بدان قناعت داریم برین نیز حکم خطا خواهیم کرد ـ ازینجا نیزمعلوم است که اگرخطارا درحقائق امورفرض کرده واین حقائق را نسبت به اقتضای ذاتی متغیر بدا نیم اینوقت سعادت یك مفهوم قابل اعتما دی نداشته وبران اتکاء نمی شود چه درحالیکه خطا حتماً آمدنی است پس چگو نه انسان برزعم خود فریب خورده برای حدوث وقائع خطازندگی کند، ویابرآن اتکاء نماید ـ واگرحقائق رامثبت دانسته خطازادهٔ اعتبارات شمرده شود، درینصورت چون اعتبارات متفاوت بوده تابع تربیه واخلاق ویادست خوش حوادث وزمان است لابداصل حقیقت درخفامانده ودرطی این اختلالات رفته، رفته وهمچهرهٔ آنرا می پوشاند.

پس در صورتیکه بداوت، ومدنیت هردو باعث استناد وآرام مطلق نیست ودر عین حال اذواق وامیال پیهم مقتضی تلاش است که ازین تلاش خود همان است که نتیجهٔ مطلوبه گرفته نمی توانیم، زیرابطرف ساده گی ، وبساطت لول خورده مقارن تزکیهٔ روحی زنده گی اختیار کنیم آن هم به تنهائی باعث اختلال نظام کلی عالم خواهد شد، واگربجانب مقابل دور خورده یکسره درآن انهماك نمائیم؟ این طریقه نیز بجائی منتهی نشده است، چه ماده کثیف است ومجاور آن طبعاً کسب کثافت نموده وبسبب جمال ظا هر ی آن تحت تاثیر وغلبه میرود ، واینچنین اشخاص مغلوب درنتیجه تمام حقائق را ازنقطهٔ نظر بدست آوردن مطلق، نگاه کرده لابد دریك تلاش متمادی ، وبی اراده

مانده میطپند، ومیجویند، نمیدانند تا کی؟ و کجا؟ پس معلوم نشد که‌چه باید کرد؟ درینفرصت تعمق‌باید کرد که‌دروقت خستگی احیاناً ماوشماهمه درخود حس کرده‌ایم که‌یك‌چیز نامعلومی‌را عقب گذاشته ودرخود احساس یك کدورت‌را میکنیم - این‌همان فرصت است که مابه‌عظمت خود رجوع کرده یك‌شی بسیارمهم ومحال‌را میطلبیم که‌دردست اقتدار مانیست، وبه‌تناسب این آرزو - تلاش، وعملی‌را جستجومیکنم که درنتیجه باید بیك‌جائی برسیم که اضداد عناصر درزدو خورد نبوده، تقاضای روح وماده هردودست وحدت بهم داده ودرانجا بیکی‌از طرفین اول نخورده باشیم آنجا نه شکایت روح باشد نه‌ازماده - آنجا کثرت وتجریدجمع شده رزق ونعمت باشد احتیاج نی، عشق ومحبت باشدتلخی هجران نی - آنوقت مناسب عظمت خود آرام گاهی‌یافته، وهمان گم کردهٔ خودرا (سعادت جاوید) با کمال فراغ خاطر درآغوش گرفته‌باشیم - اینگونه اهتزازات باطنی را که ماوشما همه دروقت‌دلتنگی وتجرید باآنها برمیخوریم وچیزهائی را میخواهیم که اجتماع آنها دردنیا محال است ویا اگر از نقطهٔ نظر زعم واعتبار فی الجمله بیك نقطهٔ مطلوبهٔ برسیم آنهم دربین نسبت فوق وتحت واقع بوده اطمینان خاطر مارا فراهم نمی‌کند پس‌بروی این‌اساس عقلاً بماثابت میشود که بااینهائی‌که درین دار برمیخوریم وآرزوی‌مارا تحریك میکند مشت‌نمونه‌ایست که‌مارابطرف خرواردلالت مینماید، واگرباری بدستورات متین‌اسلامی نظر کنیم تماماً موئید اینمدعااست یعنی انسان‌را درحدود روح وماده هردو بی‌بهره نگذاشته ازیکطرف اگربه تزکیهٔ‌روح واخلاق امرکرده‌است ازجانب آخر به‌سعی، ومجاهدت وتحصیل علم، وکسب حلال، وآماده گی درمقابل اعداء باوامر قطعی توصیه کرده ولی انسان را از راهی میبرد که تمام مطالب درضمن تکمیل گردیده ودرموانست هیچکدام آنها از عظمت او کاسته نشده مغلوب ومحکوم نشده باشد - چه اسلام بخوبی فهمیده است که‌دردنیا آرزو وامیال همیشه در مقابل تصادفات، وتصادمات متغیر شده افکار را تابع خود میسازند وگفته خواهد شد که انسان یك هدف نامعلومی را تعقیب میکند که اینگونه‌تعقیب را به ما خولیای بشر بائیستی تعبیر کرد - اما بااین مرض وقتی انسان دوچار میشود که در عرصهٔ طبیعت قدم زده سعادت‌را ازین ناحیه جستجو کند، والابرترشده بمافوق الطبیعه علاقه پیدا نماید یعنی‌سعادت رادر رضای او تعالی طلب کند آنوقت باتمام اطمینان خاطرازوسوسهٔ این‌مرض خلاص‌شده چون کار بامافوق الطبیعه است‌طبعاً ازدنائت سفلی رهیده وبا همان تلاشیکه درانهم‌ملحوظ رضای خدا بوده و بدون هرگونه ساخت وغرض حقیقتاً برای مفاد جامعه است زنده‌گی خواهد کرد، وبه‌این ترتیب اگرموفق شویم واقعاً جای تردیدی نیست که اعمال مابدون اظهار خسته گی و انتظار اجرت خالص شده یك اخوت واتحاد حقیقی‌را بلامظا هره وریا مالك خواهیم شد، خدارا که عالم‌الغیب‌میدانیم کارهائی رامرتکب نخواهیم‌شد که دران ضرری متصور بوده و خلاف شئونات مسلکی ماباشند اغنیای ما کریم، وفقراء مابی طمع بوده رقابت وبدبینی دربین نخواهد ماند، اطاعت اولولاامررا بصمیمیت کرده نعمت این‌حیات اسلامی، واستقلالی رامتشکر خواهیم بود مفاددیگران را برمفادخود ترجیح داده به‌سعادتیکه دریك داردیگری وعده داده شده امیدوار خواهیم بود، وبا دارابودن‌این اوصاف اگربرادران مااین دستورات ثابت رافراموش‌نکرده واین‌مرام سترگ‌را تعقیب نمایند شك نیست که سیادت هم حق‌آنها بوده دوباره بجلال وعظمت ازدست رفتهٔ خویش‌خواهندرسید، این بودسعادت وطریقهٔ آن ! !

اجتماعی مقصد پا ادبی ژبه

د پسرلی گله !!!

گل پاچا الفت

ستا ښایسته او گلالی بشره په کاینناتو کښ خومره قدر لری ! اسمان سره له دومره لویو الی هر سحر دشبنم په پاکوخاخکو ستانازك مخ وینځی اومخکه هروخت دخپل زړه له نمه اوبه درکوی .

که رښتیا ووایم مخکه او اسمان ، لمر او سپوږمی بلکه ټول کاینات متفق شوه او ته ئی لکه یو لعل له سپیرو خاورو را بهر کړې .

نو ته ووایه ! چه : ستا ښکلی او زیبا مخ چه دقدرت یوه ښکلی نقیسه تابلوده خومره قیمت لری ؟

ته یوازی ښه رنگ ، لطافت او طراوت نلري ستاروح خوشحالو ونکی بوی هم دستایلو وړدی چه نیم ژواندی زړونه قوی کوی او نسیم ئی د ارمغان په ډول یوه خوا او بله خوا وړی .

دمخکی مخ په تا باندی ښه ښکاری ، هواستا په فیضان معطره شوه ، دبلبل خوږه نغمه ستاد جلوې برکت دی ، شاعران ستا په ستایلو په جامعه کښ مقبول شوه ، بو را ستا په مینه په مرغانو کښ امتیاز پیدا کړ دانسان متلون مزاج او هردم خیاله طبیعت چه هرساعت یوشی خوښوی اوبیاهماغه شیبه ورځنی زړه تورن کیږی یوازی په تافا نع شوی اوقرنونه قرنونه ئې ستامینه په زړه کښ ساتلې ده ، چه هر پسرلی درته خوشحالیږی او ستادراتلو انتظارلری . دادبیا تواوشعر رنگه په تا ښه ده ، اولکه سعدی یونوموړی شاعر تاپخپل دلاویز بوی په حمام کښ مست کړی اودخپل هوادخاوره دی ورته خوشبویه کړیده.

مگر ته باید هیڅکله پخپل دغه جمال او کمال مغرور نشې اوداتصورونکړې چه کهزه هرخومره له خلقو ځان لری کړم اوپه یوه گوټ کښ ځای و نیسم خلق به راپسی گرزی اوکندی کړی به راپسی لټوی ، تاغوندی ډېر ښایسته او ښه گلان دپښتو نخوادغر وپه لمنو کښ پیدا اوورك شوه چه نه چاولیدل اونه چاوستایل ، که ته هم له دغه چمن ځنی لاړی اوله باغه ووتلې ، دبلبل او مالیا ردواړو هیریږې اوبیادی هیڅکله نوم په خوله نه اخلی .

هو! دانسان داعادت دی چه مطلق ښه نه ستائی اوهر ښه شی ښه نگنی ، بلکه هغه شی ښه بولی چه ده ته نزدی وی اودده خپل شی بلل کیږی . داعصر هیچاته اجازه نه ورکوی چه دبل چاشی وستایی اوپه ښه ستر گه ورته وگوری ، هرڅوك به خپل ښاغلی گنی اود خپل باغ گلونه به خو ښوی - که ته هر خومره لکه یونازك خیال شاعر خپلی گلالی معطری اونازکی پاڼی زما په مخکښ وغوړوې ، اوزه در سره څه علاقه ونلرم نوخپلی سترگی به پټی کړم اونه به درته گورم نوتاته به هیڅ پاتی نشی اوستا به له یوه معمولی بوټی هیڅ فرق ونشی ستاداټول ښایست زمونږ په توجه اوکتلو پوری اړه لری . که ته غواړې چه هرڅوك دی قدرو کړی اوپخپل سردپاسه ځای در کړی ، لکه نرگس هرچاته گوره اولکه دباغ غوټی هرسحر خلقوته خانده .

په دغسی التفات اویوه خواه خنداسړی دخلقو زړونه خپلولی شی اومقبولیت پیدا کوی ، په یوازی گلتوب اوگلالی توب هیڅوك خه قدر اومنزلت نه مومی اونه په تش ښایست دلبری اودلر بائی کیږی .

له الهلاله

صحافت او ثقافت

داستاذ عبدالرحمن صدقی په قلم:

دصحافت لمړۍ وظیفه دغه ده چه خپلو لوستونکو ته هغه لنډاو مفید معلومات وړاندی کړی چه هغه معلومات دجامعې دموجودو رنځونو دارووی ، اوفی الحال ئې ورته ضرورت وی، اوپه روزانه ژوندون کښ ئې په کار راشی ځکه ددنیا دچارو ټول مشکلات په یوه فکرنه حل کېږی بلکه دژوندون ددې ډېرو مشکلاتو دپاره ډېر افکارپه کاردی .

همداسبب دی چه دایوه مختصره اوکوچنۍ داخبار پاڼه چه ته ئې وینې اوتاته یومعمولی او جزوی شی ښکاری اوته ورته دبې قدرۍ په سترګه ګورې. ځانته ډېراعضاء اوډېرخلق لری چه ددې معلوماتو په غونډولو کښ دخپل زړه وینی خوری اوستاسو دافکارو دتنویر دپاره سعی اوکوښښ کوی، اودغه وړه اوبې قدره پاڼه هغه پاڼه ده چه ددې اخبار چلو ونکی ددغه اخبار دپاره داسی محررین استخدام کړی دی چه هغوی په خپل خپل فن کښ ځانته تخصص اومعلومات لری او دژندون په مختلفو شئوناتو کښ دډېرو معلوماتو اولوی لاس خاوندان دی اوهم ددې مقصد دتکمیل دپاره ئې ددنیااومملکت په خوا اوشا کښ خپل ډېر مامورین او نمایندګان ددې مقصد دپاره خپاره کړی دی چه ددې نړۍ په صفحاتو کښ اودملتو اوقامونو په دودونو کښ مطالعات اوتطبیقات وکړی اود خپلوافکارو خلاصه دغه خپل مرکزته دلوستونکو دافکارو دتنویر اومعلوماتو دزیات والی دپاره راولېږی ، اود دنیا دپېښو اوواقعاتو څخه خپل قام خبر کړی اوکه څوك فکرو کړی نودصحافت دنیاهم دعلم اوداستطلاع او با خبرۍ دشوق محصول اونتیجه ده، اوهم ددې مفکورې په اثر دادنیا دځمکی په مخ ودانه شوې ده، اوداهغه خوږ خوند دی چه دبشر په فطرت کښ داخوند اخښل شوی اوګډدی ، اوهمداحس دوطن دعمرانی لوړتیاو اوعلمی کامیابیو منشاء ده .

دښاغلی عزیز الرحمن خان ترجمه:

اوهم ددې ضرورت له کبله جرائد او مجلات میدان ته را ووتل اوهم داضرورت ددوی دتکوین اوبقاء او کثرت اوډېر والی سبب سو .

په ابتداء کښ اخبار صرف د هغه شی نوم و، چه دبادشاهانو خبرونه اوبری، او کار نامې اولوړ لوړ کارونه به ئې خپرول او دمشرانو تګ راتګ، سفراو استقبالونه او مېلې او مجلسونه اودباد شاهانو دقصرونو او کورونو مېلمستیاو اوضاع او تعریفونه او دولیعهدانو دمیلاد احتفالات اونورداراز دشاهی کورنۍ حالونه به ئې کښل، اوداشیان دجرائدو اصلی مقصداو مهمه وظیفه وه اوهغه شیان به پکښ نشرېدل چه لویو اوغټو خلقوته به ئې خوندور کاوه اوهغوی به پرې خوشحالېدل .

اودا سلسله ترهغه وخته جاری وه چه خلقو دعلومو اومعارفو سره پوره پېژند ګلوی نه وه موندلې، لیکن هر کله چه علومو اومعارفو سره خلقو پېژند ګلوی پیدا کړه اودې خواته ئې توجه وکړه نوورو وروپه جرائدو کښ پردغو پورتو مقاصدو یوه تعلیمی اوعلمی برخه هم زیاته شوه، او داسلسله ترهغی پوری جاری وه چه پر دنیالاد «دیموقراطیت» بادنه ولګېدلی، لیکن هر کله چه به پردنیا دیموقراطیت بادوالوتلی نوانسان ورووروخپل حقوق وپېژندل اودې خواته ئې توجه پیداشوه اوپه دې سلسله کښ ئې دحکومتونو داسلوب اوعمومی شئوناتو خواته هم توجه وکړه اولوړومشرانو مفکرینو ددې کارداصلاح دپاره دقیادت قلمونه په لاس کښ واخستل اوپه جرائدو کښ ئې په دې مسئله بحثونه اوڅېړنی شروع کړې، اودخپلو نظریاتو په تائید کښ ئې دخلقو افکار را غونډ کړل .

هم دې کارپه جرائدو کښ یوکلی انقلاب پیدا کړ اوپه ځای ددې چه اخبار دمخصوصو واقعاتو یوفهرست و، دافکارو دنثریوه مهمه آله شوه.

اودې کارد ومره ترقی وکړه چه سیاسی او اجتماعی مشرانو به په دوی کښې خپل نشریات کول او دبېل بېل گونداو ډلی په نوم ځانته مستقل اخبارونه تاسیس شوه او هر اخبار به دخپلی ډلی په خوا او شا کښې او دخپل مسلک په تائید کښې خبری او نشریات کول او هر اخبار به دخپلو مضامینو په نشر کښې دا کوښښ کاوه چه زه دخپل مسلک په تعمیم او ترویج کښې کامیاب شم ، او دخلقو افکار دخپل مسلک تر تاثیر لاندی راولم ، او خپل نفوذ او غلبه حاصله کړم لیکن هر کله چه په دنیا کښې دصنعت او تجارت روح پیدا شو او په نو نسمه پېړی کښې دې روح ترقی وکړه او مدنیت دژوندون په ټولو اطرافو قبضه وکړه ځکه چه مطبوعاتو دانسانی ژوندون سره کافی علاقه درلوده ، نو دوی هم دمدنیت له قوانینو څخه بې اثره پاتی نه شوه ، او پر دوی ئې هم خپل قوانین په ډېر ښه ډول سره جاری کړل ، او په صحافت کښې هم ددغه حرکت پلوشې ښکاره شوې ، او دعصر او زمانې دایجاباتو مطابق دې شی هم په مطبوعاتو کښې ځای ونیو او په مطبوعاتو کښې ئې داسی انقلاب پیدا کړ چه دهغه پخوانی انقلاب سره ئې هیڅ نسبت نه درلود .

ځکه چه پخوانی صحافت په ابتداء کښې دومره کار کاوه ، چه یوې محدودی طبقې ته به ئې خبرونه رسول او د الحاظ پکښې نه و چه دلوستونکو دپاره څه شی ضرور دی او څه ئې خوښ دی بیا چه صحافت دخپل تطور په دوهمه دوره قدم کښېښود ، او دخلقو په ژوندون کښې ئې ځان داخل کړ او د حوادثو په رفتار کښې ئې برخه وا خستله ، نو د صحافت څخه په دغه دوره او تطور کښې صرف داسی شی جوړ شو ، چه سیاست مدارانو به د دې آلې په واسطه دملت دخدمت او اصلاح په نوم خپل اغراض او مقاصد تر سره کول او یا به درا یو او افکارو خاوندا نو ددې آلې په واسطه خپلو افکار وته سیاست مدا ران متو جه کول .

گویا صحافت په خپله ابتدائی دوره کښې دیو خبرو ونکی او تقریباً جارچی حیثیت درلود ، او بیا ئې په خپله دوهمه دوره کښې ورو ورو دمعلم حیثیت پیدا کړ ، او تر خبرونو علاوه ئې نوروشیانو او معلوماتو او تربیې او نورو کارنو ته هم لاس وا چاوه ، او په بحث او مناظره او نور وطریقو به ئې خلق پوهول ، او بیا په دې خپل وروستی تطور کښې ئې په خپل زړه کښې صنعت او تجارت ته هم ځای ورکړ !

صحافت دېته ملاوتړله چه ددنیا په ملیونونو وگړو کښې خپل ځان ته لوستونکی او علاقه مندان پیدا کړی ، او هر کله چه داجباری تعلیم په برکت نن په دنیا کښې لوستونکی خلق ډېر دی او اکثر خلق دتورو سره اشنادی نو د دنیا اکثرو خلقو سره صحافت خپل تعلقات قائم کړل او علاقه ئې ورسره پیدا کړه لیکن تر دې علاوه ئې نور فکرونکړ صرف دومره ئې وکړل چه د صحافت څخه ئې هغه پخوانی زیاتی شیان وغورزول ، او د صحافت واگی ئې بلی خواته واړولې . یعنی نوی صحافت ته ئې راواړولې . یا په بل عبارت هغه شی ته ئې را واړول چه نوی لوستونکی او دنوی زمانې او نوی عصر خلق د هغه لوستلو ته اړتیا او ضرورت لری ، او د هغو معلومات غواړی .

ځکه چه ځموږ دنوی زمانی لوستونکې په دې نوی عصر کښې په یو داسی حالت کښې پراته دی او په یو داسی عجیب وخت کښې ژوندون لری چه دخپله حاله څخه خبر نه دی ، او هم داجرائد ئې غوږو نه دی چه ددنیا له احواله پرې خبر ېږی ، او هم داجراید په نننی ژوندون کښې دیو انسان دپاره دیو لارښوونکی حیثیت لری ، هم دا صحافت انسان ته دعلومو عجائب او نوی نوی تازه فنون او اختراعات او دحمل او نقل او تقدم او ترقی نوی وسائل او معلومات او دسفرونو په خوا او شا کښې معلومات وړاندی کوی او ددنیا دپېښو او وضعیتو نو څخه خپل لوستونکی داسی خبروی او داسی ئې پوهوی لکه چه یو مدافع لښکر چه څوک ددښمن دټولو او ضاعو او خیالاتو څخه خبره وی ، او یا یو نوی نابلده مسافر او ناخبره سړی ته څوک لار ورښئی ، او په ډېر ښه او خوږ اسلوب او تازه او ژوندی طرز په ډېر آسان عبارت دخپلو مطالعاتو او معلوماتو خلاصه او خپل تجارب او شخصی او علمی معلومات جامعې ته وړاندی کوی .

تر دې وروسته بیا په جرائدو یوه داسی ، دوره راغله چه هغو به ددنیا دجراثیمو په خوا او شا کښې نشریات کول ، او ددنیا دجراثیمو خبرونه به ئې خپرول او دې خبرونو به پر لوستونکو یو داراز حس پیدا کړ چه داراز خلق به ورته دلوړ همت او عزم او اقدام خاوندان ښکاره کېدل ، تر دې علاوه ددې څخه په جرائیدو کښې نور په زرگو نو داراز

معلومات ووچه په پخوانی صحافت کښې بالکل نه وو .

لیکن نوي صحافت داټول موضوعات یو ې خواته کړل اودې مسائلوته ئې لاس واچاوه ، چه انسان په خپل ژوندون کښې په څه کامیابیږی ؟

او انسان باید دخپل عمر په کمو کلونو کښې واده وکړی ؟ کوچنیان څه رنګه وروزو، څه‌رنګه‌ئې ولمبوو؟ څه رنګه ئې پاك او نظیف وساتو . پوزه ئې څه رنګه پاکه کړو؟ اونورددې‌راز معلومات‌ئې جامعې‌ته وړاندی کول شروع کړل، اوهم‌ددې رازمفیدو معلوماتو اغیزه وه چه نوی صحافت په خلقو کښې ډېر رواج او ښه مقبولیت وموند، اودې مفید وارشاداتو او کورنو اومنزلی معلو ماتو خلق‌ځانته راجلب کړل، اوهمدا معلومات دنوی صحا فت دکامیابی سبب شو .

صحا فت دانسان دژوندون سره رابطه پیدا کړه ، او صحافت دانسان په‌ژوندون کښې تردې اندازې پوری داخل شوچه دلوبو اوریاضت اودژوندون په اکثروچارو کښې‌ئې دومره برخه واخسته چه‌صحافت دانسان دژوندون یوجز اوبرخه وګرزیدله .

اوپه سیاسی مسائلو داسی اصولی اوښه عالمانه‌بحث کوی چه دیوډېر کم تعلیم اولږومعلوماتو خاوندهم ورڅخه پوره استفاده کولی‌شی. دابنګاره خبره ده ، چه‌دصحافت دانوي نمونه دانسان دحقیقی احتیاجاتوسره بالکل‌سمه ده اودخپلو لوستونکو دافکاروپه تنویراومعلوماتو کښې پوره کومك کوی، اوانسان دخپل ماحول دملیونو خلقودچارو اوکارونو اوعاداتو اواطوارو اواحساساتو او آرزو ګانو څخه خبروی .

که پخوانی صحافت په اجتماعی اوسیاسی موضوعات دیوقسم رسم وغیره په ذریعه لوستونکوته وړاندی کول اوپه‌ځنی رموزو اواشاراتو به‌ئې دخلقو په‌افکارو کښې‌دغه موضوعات رسم کول .

نوی صحافت لکه دسینما دپر دې په ډول متحرك صورت په‌داسی جذابه اوعصری طریقه خلقوته وړاندی کوی چه دانسان احساسات په حرکت راولی او ددنیا مجسم واقعات دلوستونکو په افکارو کښې په ډېر مهارت رسم کوی .

نوی صحافت دا کوښښ کوی، چه‌دهرچا او هرراز خلقو سره علاقه پیدا کړی اوهم داسبب دی چه کله دلوستونکوسره دجائیزو اورازراز امتیازاتووعدې کوی، او کله دډېرو علاقه مندانو سره په قیمت کښې مراعات کوی ، او کله دیوې بلی لاری څخه تقدیر او حوصله افزائی کوی .

ځکه چه نن صحا فت دپخوا په شان یوازی دسیاسی نفوذ اونوروشیانو دخپرولو آله نده، بلکه کله چه صحافت دصنعتی کارخانو اوتجارتی مرا کزو سره علاقه لری، دسیاست‌سره‌ئې‌هم‌لری اونن صحافت‌دانسان دژوندون په‌ټولوخانګو کښې پوره برخه‌اخستې‌ده.اوټول شیان صحافت‌پخپل لاس کښې‌نیولی دی .

نن‌دصحافت یوه برخه تاجرانو دخپلو اعلانواوخپلو مصنوعاتو دشهرت دپاره مخصوصه کړې‌ده . او هر څوك خپل اعلانونه جرائدوته سپاری اوهر کله چه تاجرانودې خواته ډېر احتیاج موندلی دی، نودا خبارو نوخاوندانو هم‌ددې راز شیانوقیمت اواجرت زیات مقرر کړی دی اوچه څومره یواخبارپه‌خلقو کښې‌ډېر رواج اوشهرت لری هم‌هغونی‌خلق هغه‌ته ډېر اعلانونه ورلیږی اوپه‌ډېرولوړو قیمتو نوئې نشره وی اوهم داسبب دی چه نن اعلا نونه دصحافت مهم رکن ګرزیدلی دی . او ددې لاری څخه صحافت ډېرثروت پیدا کړی دی، او په دې کار ددېرو جرائدو په‌منځ کښې رقابتونه پیداشوی دی ، اوهر اخبار دخپل‌شهرت‌اورواج په‌لاره کښې‌انتهادرجه کوښښ کوی اوغواړی چه دنورو اخبارو نوڅخه میدان وګټی اود دې خیال دعملی کولو د پاره څوك دخپل اخبار پاڼی‌اومضامین زیاتوی اوراز رازنوی نوی عنوانونه‌اوبا بونه‌اومباحث‌پکښې اچوی څوك‌ئې دخط په‌لږ والی اوڅوك ئې دعکسو نوپه صفائی کښې کوښښ کوی اوداعلانو نوددرکه دومره ګټی کوی چه‌اخبارونه دخپل قیمت او زحمت اومصا رفو درویه دحقیقی مصارفو څخه ډېرپه کم‌قیمت خرڅېږی بلکه دتش کاغذ دقیمت څخه هم په‌لږو پیسو خرڅېږی !

خلاصه‌دا چه‌نن نوی صحافت خپل لیکو نکی په‌دې خبره پوه کړی دی چه دمضمون دلیکلو په وخت کښې دانصب‌العین ولری اوهغه مضامین ولیکی چه‌دجامعې‌دذوق اوفکر اوهیلو سره سم اوپه داسی اسا نه اوښه طر یقه‌وی چه‌خلق ئې دسباناری او سیل اوتفریح پرو خت اوپه خپلو

کورو نواو مجلسو نو کښې ولولی او یاچه دکاره څخه بیر ته راشی دخپلی ساعت تېری. اوتفریح دپاره ئې اولی اومقصد ئې صرف دخپلو لوستونکو ډاډه وی او دهغوی دافکارو اوخوا هشاتو وده وی .

اوداددې نوی صحافت نخښه ده چه وخت په وخت او موقع په موقع خپلو لوستونکوته حقائق ورښکاره کوی او دهغوی سره دهغوی د ذوق او افکار وسره سم خبری کوی !

اوکه نن موږ دصحافت په مسئله کښې ځیر شو ، نو په ډېر جرئت سره به داخبره وکړی شوچه په دې ورځو کښې دجرائد واوقلم دخاوندانو ترمینځ هم ډېر فرق او جدائی راغلې ده اولیکونکو دا راز طرز او لار نیولې ده چه دخپلو لوستونکو دذوق سره ډېر تناسب اوپوره موافقت نه لری او کله اخبار او کله دلغت کتابونه مطالعه کوی . په دې موقع کښې به داهم بې ځایه نه وی چه موږ خپلو لوستونکوته په دې ترڅ کښې داخبره هم ښکاره کړو چه داموضوع صرف دجرایدو په خصوص کښې ده اومجلات په دې موضوع کښې داخل نه دی ځکه چه مجلات دجرائیدو او کتابونو په منځ کښې یو ځانته مخصوص شیان دی چه دجامعې دمیل سره سمی خبری اتری کوی اودضرورت په خوا اوشا کښې بحث اومذاکرې کوی !

اوهر کله چه دیوقام په مدنیت کښې جراید ډېره برخه لری نوهم له دې سببه دانسانیت علاقه مندان جرایدو ته ډېره توجه کوی او جرائد په دنیا کښې دنورو مطبوعاتو څخه ډېر خپرېږی . اودجرایدو په خصوص کښې داخبره چا ډېره ښه ویلې ده .

که یوقام غواړی چه ددوی صحافت په تعلیم کښې ښه برخه واخلی ښائې دغه صحافت اول خپل لوستونکی دزدکړی دپاره تیار اوآماده کړی اوهغوته ثقافت وروښئی اوپه هغو کښې دنقد او صحیح حکم او فیصلې داسی ملکه پیدا کړی چه ددی لمړی ددغه کار دګټنو صحیح اوغلط معقول اونامعقولو شیانو په مینځ کښې فرق اوتمیز وکړی شی او دعلمی دنیا اوسیاسی احوالو او ادبی مقام په جلا جلا امتیازاتو پوه شی ، اواستفاده ځنی وکړیشی ، لکه چه نن روزنامې طبعاً په دې کارونو کښې مصروف دی .

اوکه ثقافت دصحافت سره خوا په خوا روان نه شی اوچه څه دلوستونکو خوښه وی په هغو پسی ولاړشی نوداپر ثقافت ډېر ظلم دی چه دادمعلمۍ اونور ټول مسئولیتونه دثقافت په غاړه واچول شی .

او که صحافت داټول وظائف پرخپله غاړه اخلی او غواړی چه دخپل قام دنهضت دپاره دښوونی پرډول ډول لارو کښې خدمت وکړی نوښائی چه صحافت دترجمانۍ اومعلمۍ دواړو وظائف په ډېر ښه شان سره ادا کړی !ـ

څلور یځی

چه دخدای عبادت کړې پردغه خاوری
نوئې ساته هم ئې لوړ کړه ټولی چاری

دغه خاوری ټول هډونه ستا دپلاردی
که ئې روزی ته هم ځان کړه ورته خاوری

«ښاغلی پر دېس»

تتبع اومطالعه :

پخوانی آثار اوودانۍ

ښاغلی یار محمد خان «نظامی»

دتاریخ د مطالعاتو او پخوانو آثارو دکتنی څخه معلومېږی چه وګړو داړتیاله لامله دمځکی په مخ دودانۍ کارشروع کړیدی ، ځکه چه وګړی دې خبری ته اړوو چه دخپل حفاظت دپاره دیخنۍ اوګرمۍ ، دباد اوباران، اودحیواناتو دحملو اونوروجوی انقلاباتو څخه دځان ساتلو دپاره ودانۍ اوآبادی وکړی ځکه چه داحفاظت اومطلب بی دودانۍ څخه ممکن نه وانسان وار دواره ددې مقصد دپوره کولو دپاره دغرونو په لمنو کښ څمڅی بنا کړاو بیائی ورو ورو په ډاګونه او میدانونو کښ دتیږو اوخټو دېوالونه جوړ کړل اوودانۍ یی شروع کړې ، څوبیاورو ورو دونو ځنګلونوته رانژدې شول اوپه خپلو ودانیو کښ ئې علاوه پرتیږو اوخټو دلرګو څخه هم کار اخستل شروع کړه ، اوتدریجاً دخپلی ودانی دنواقصو په تکمیل اخته شوه، دموجوده معماری داصولو خواته ئې خپله ودانۍ رانژدې کړه ، اوداهم معلومه خبره ده چه په ودانیو کښ دټولو څخه پخوانۍ ودانۍ دمصریانو دی ، چه دهغی اصل اومنشاء دغارونو اوڅمڅو دچینیانو دودانیو څخه ده چه دخیمې په شکل به ئی جوړولې ، دپخوانو مصریانو دودانی طرز داوچه عمودی دیوالونه به ئی جوړ کړل اودچت دپاسه به ئی اوږدې اوپلنی تیږی پرواچولې ، دادونی پخه آبادی وه چه بالکل به نه خرابیده اوپه پېړیو پېړیو به جوړه اوتیاره وه ، څرنګه چه ار ووتر اوسه لاهم دهغه زمانې آثاراو نخښی پاته دی ، دپخوانو ښې ودانۍ ترځمکی لاندی غار ونه او داهرام ګنبدی اودتیږوستنی دی ، د(لابی رنت) مشهور عمارت چه مؤرخینو ئې لکه (هرودت ، پلین ، سترابون) اونورو په کتابو کښ مفصل ذکر کړیدی ، همدغه شان د (مونولیت) اطاقونه چه بېل بېل اطاق دیوې لوئی تیږی څخه جوړ شویدی .

دمصریانو دمعماری په طرز کښ دومره کافی ده چه ولیکله شوه ، اوهر کله چه ځما دمعماری دعلم شرحه او ذکراودهغه لوړوودا نیوبیان مقصددی چه نن خلق ورته دحیرت په نظر ګوری اودبشر دمدنیت ښکلی علامې دی چه دعقل اوفکر خاوندا نوته دتېروشو وپېړیو مدنیت ښکاره کوی . نو په دې سبب زه غواړم چه په اصل موضوع شروع وکړم.

ددې جملی څخه د (هرموپولیس) رواق دی چه ۳۶ متره اوږداو ۱۲ متره جګ دی او (تب) یاطبس پخوانی ښارچه دمصر دفراعنه وپایتخت واود تیږوسل دروازې ئی درلودې ۲۷ میله پراخ و ، اوداښاردبشر دمعماری دعجائباتو څخه شمېرل کیږی ، په (نومی) مملکت کښ د (ایپسا مبول) معبد چه څلویښت پېړۍ په خاورو کښ ښخ واوڅه موده پخوا کشف شویدی ، دا معبد څلور میله وسعت لرې چه د دې ټوله ځمکی په ډېروښوآوارو تیږو فرش شوی دی ، په دې معبد کښ څلور مجسمی ولاړې دی چه هره یوه شل ، شل متره اوږده ده اودبشر دبدائعو کافی نمونه ده ، د پخوانو مصریانو اکثره ودانۍ ، معبدونه اوقبرونه اونورمذهبی ځایونه وو ، چه په ډېرزیاربه ئې لوئی لوئی غټی تیږی دلیرولیرو ځایو څخه ددې آبادۍ دپاره راوړلې اودغه ځایونه به ئې پرې جوړول، لکه تراوسه پوری چه ددوی دغه یادګارو نه پاته دی .

داهم باید وویل شی چه دپخوانو مصریانوودانۍ دهندیانو دودانیو اومعمارۍ په شان دی ، ځکه په کم وخت کښ چه په پخوانو پېړیو کښ مختلف قبائل دحبشې دغرو څخه راکښته شوه اومصر ته راغلل ، داملك ئې ډېر په نظر ښه حاصلخېز اوآباد راغی ، نو دغلته ئې داستوګنی خیال وکړاو دغه ئې دخپل توطن دپاره خوښ کړ ، لیکن هر کله چه داځای ترحبشی ډېر توداو دوبی ئې ډېر ګرمو ، دوی ددغه ګرمی اوتو دوخی څخه په عذاب سوه او دګرمی څخه ئې دځان ساتلو د پاره تر ځمکی لاندې د تېږ و زیرزمینی د (ایندوس کانژ) دساحلی ودانیو په شان ودانۍ وکړې ، په حقیقت کښ دا زیرزمینی ډېری ښې اوعمده آبادۍ وې اوداښی آبادۍ په اول کښ دژوندوداستوګنی ځای واوبیا ورو ورو

پدې زیر زمینو کښې مړی اېښول کېدل، اوله‌دېنه وروسته هم داځایو نه دانسا نانو ددستکاری او عجیبه صنائعو او آثارو نندار تونونه سوه .

پخوانو یونانیانو په‌اول کښې دمصریانو تقلید کاوه، لیکن هر کله چه‌دهغوی په مملکت کښې دلرگو ځنگلو نه ډېرزیات واودآبادۍ دپاره لرگی ډېروو، نوهغوی خپلو آبادیوته تغیرورکړ اودخپلو آبا دیو په‌چتو کښې ئې تیرونه اولرگی استعمال کړه، دغټو تیږو په‌ځای ئې نرۍ تیږی استعمال کړې، اودتیږو اولرگو څخه‌ئې ښې‌ښې‌اوعالی عالی ښکلی ودانۍ تیاری کړې، داسی پخې ودانۍ ئې جوړې کړې چه تراوسه ئې دزمانې انقلا باتو سره مقاومت کړی دی، اونن دمصر یانو دپخوانو ودانیو سره دسیا لۍ په میدان کښې ولاړی دی، چه ددې جملې څخه دآ تن په خوا کښې (افز) نومی معبددې ۳۳۰ متره اوږد او (۷۰) متره پسور لری، دامعبد پر۲۷ ستنو ولاړ دی چه هری ستنی ئې ۳۵ متره اوږده دی، ددې ځای دودانۍ کار په ۲۵ کلو کښې پای‌ته رسیدلی دی، بل‌د(پارنهئو)معبد (می‌پزو) دعقل رب‌النوع چه دیوې غونډۍ دپاسه جوړ شو یدی او دیونان د معمار ۍ د عظمت او لوړ والی پوره شاهد دی .

تر دې ورو سته درومنیانو او پخوانو گو لو ائییانو معماری دبشر دپخوانی تمدن یادگار دی .

لیکن عرب‌هم دمعارۍ په‌فن کښې پوره برخه‌لری، او دخپلی معمار ی دفن قابل قدر یادگارو نه ئې دنیا ته پرې اېښی دی، اودتمدن دنیا ته ئې ددې صنعت دترقۍ په خصوص کښې ښه اولوړ سرمشقو نه ورکړیدی لکه چه په (کرفاد، سویل) اسپانیا، مراکش، تونس، طرابلس غرب، قاهره، دمشق اونوروځایو کښې ددوی څخه‌دعالی مانیو اوښکلو جماعتونه اوښوودانیولوړ باعظمته دمعمارۍ اوتمدن یادگارونه ودنیاته پاته دی چه‌نن ددنیا سیاحان دحیرت اوتعجب په ستر گو ورته گوری . په هر صورت عربوهم په‌معمارۍ کښې دپخوانو یونانیانو تقلید کړیدی، لکه چه په اسلا مبول کښې دعربو آثار ددې خبر ی ښه شاهدان دی .

خلاصه داچه کمه ترقی چه نن دمعمار ی فن کړېده اودومره پورته تللی دی اولوړ لوړ قصر ونه او عصری ښکلی مانۍ په اکثرو ممالکو کښې په تیر ه بیا په اروپا او امریکا کښې ودانې شوی دی، یاودا نیږی، داټوله دمصریانو اویونانییانو دپخوانو معماریو به سیوری کښې شو یدی، چه ورو وروئې دپېړو او زما نو دتجار بو په سیوری کښې ترقی کړې او کمال اونن دې حیرت بخشې درجې ته را رسېدلی دی .

څلوریځی

وخت دی ساته چه بیا هېڅ نه پیدا کیږی
ډېر افسوس دی که دی وخت خوشی تیریږی

که‌دی ژوندورباندی گران‌دی وخت‌ته‌گوره
نو ئې ساته کنه ژو ند د ی تباه کیږ ی

❀ ❀ ❀

که ملت ته ر ښتین نه ئې واو ره ورو ره
ته ر ښتیا نکړ ی دځان سر ه هر گو ره

نو وطن و جا معې ته د ی رښتین سه
بیا نو هلته ته د ځا ن ښېگڼه گو ره

(ښاغلی پر دېس)

د پښتانه سندره

ښاغلی حاجی ولی محمد خان « مخلص »

تل په مینه به ډوب د وطن یم
پر شرف دخپل کام به مین یم
شین زمری پروت دغرو په لمن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

خپلوا کی ښې جنډې می ولاړی
زه ئې ساتم په وینو دغاړی
تل دستر گو اغزی ددښمن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

نوم می خپل کام می خپل کورمی خپل دی
په خپل ښې می پاچا لکه گل دی
شکر کاږم نه خوار نه غمجن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

خوږ دزړه به می هلته درمان شی
چه ترلخان تېر هواد می ودان شی
دلوړ تیاګې خورا ارمانجن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

نن چه تللی پرمخ نورجهان دی
زه که پاته ترشاډېر می زیان دی
نوپر لار به د علم و د فن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

هله لوړ به می سرترهر چاوی
چه اغوستې می خپله خمتا وی
نه چه می پروت دبل په کفن یم
زه چه زوی دپښتون غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

سپېره خوښ ناست په خاورو ایروکی
چه پرمینه یم پروت دپلر و ، کی
نه چه ناست دپردو په گلشن یم
زه چه زوی د پښتو ن غیر تمن یم

❀ ❀ ❀

که ترسر پښتنوالی په لار کښې
درشتیانه شوم تېر پخپل وار کښې
« مخلص » نه یم مختور دروغجن یم
زه چه زوی د پښتون غیر تمن یم

نوی شاعر

ښاغلی عبدالرؤف خان «بینوا»

عشق هم موډ شو په عالم کښې — عاشقان دی لور پر لور
اوس هر یو ځان مجنون بولی — زړه کې بل دمینې اور
په یوه چشمك دیدار خپل — دین ایمان ښندی هم کور
مګر دائې تش ویل دی
پر خلافه ئې کول دی

وایی مې سو مه له غمه — اما ګر زی روغ رمی
جنتل مین له ځانه جوړ کی — وا یی زه یم لیونی
خوب حرام ګڼی په عشق کښې — ترغر مې پروت وی زلمی
آخ او واخ ئې تل جاری وی
دغه ټوله تګمار ی وی

دی تر داسی حده پست شی — چه هرڅه پر بوسه ورکړی
یا په یاد دیار خوګانو — په ژړا خپل لیمه ترکړی
یا دنیا ټوله په وزن — دیوه وېښته په سر کړی
دا اثر نه دالفت دی
نه رشتینی محبت دی !

زما زړه خوږ یا نه دی — چه ئې زلفی را ځخه یوسی
نه بلبل غوندی مرغه دی — چه مین د ګل پر بوسی
نه ئې داسی کم فطرت دی — چه دبت په چستجو سی
نه پراور باندی کباب دی
نه په وینو کی غرقاب دی

که خو ښی نه وی هیڅکله — لا هم نه را ځی ژړا هیڅ
د خپل زړه سره خواله کړم — بل می نه ولید اشنا هیڅ
که لیمه په وینو سره شی — اثر نشته د ژړا هیڅ
نو به خوشی ولی ژاړم
بې ژړا به خوښی غواړم

❀ ❀ ❀

مینه

ښاغلی صدیق الله خان «رشتین»

زه دمینې سیلاب کړمه نا خبر ګېر — خدای دې خیر کړی پکښې وینمه خطر ډېر
چه اخته شوم زه دمینی په سودا کښې — را نه شو لوهغه دم علم و هنر هېر
آشفته ئې زه په سر و شنډو زو کړم — ما چه و کتل خپل یار و ته په زور زېر
هغه دم می په ځګر سوری سوری کړی — چه را واړ وی گولی ستر ګې په هر پېر
ته چه دارنګه ستم په ما غریب کړې — خدای به کاندی ستا دحسن وارهم زرتېر
زه دمینی په دولت باندې نا زېږم — خوښ می نه دی دقارون په رنګه زرډېر
که دی وکړې ستغې سپوری ما غریب ته — زه بې کېدم د غمو نو په پنډ سر بېر
چه دعوه دمینی کړې له سره تېر شه — تل په مینه کښې «رشتین» وی له خپل سر تېر

دوطن خاوری ته یوږغ

محمد گل نوری

د ایشیا تاجه افغانستانه — پخپل زامنو ته ئې ودانه
ته وستانوم دی دواړه ژوندی وی — ټول دی ژوندی وی ستا فرزندانه

❀ ❀ ❀

د استاد خاورو زر راشنه کیږی — د تاریخ پاڼه په دې ځلیږی
ټوله دنیا یې وار وار منلی — ستا همت هر چا ته دی عیانه

❀ ❀ ❀

آخوږې مینی ته زموږ پت یې ! — پر خپل اولاد دی په شفقت یې !
خاوری دی زر دی تاتې امید دی — ځکه پر ټولو باندی یې گرانه

❀ ❀ ❀

د مېنی ورونو ټوله اوچت سی — لکه پلرونه په لوړ همت سی
لاس سره ورکی ټول سره یوسی — ډېر زیار وباسی وکی مړانه

❀ ❀ ❀

دا دا زله زموږ وظیفه ده — خپل نار نتوب او توره مو مله ده
که چیری ځای دسپین میدان راسی — د شاه ترا مرجار کی خپل ځانه

❀ ❀ ❀

مېنه مو خپله مال مو هم خپل دی — نوم مود ځان دی کام موهم خپل دی
څوچه مووس وی خپل وطن لوړکی — ټول سره یو سی روی د قرانه

❀ ❀ ❀

د افغان نسل لکه ځنځیر دی — چه یو ئې نه وی هابل په ویر دی
زامن زموږ سم په پله پسی دی — لاس ئې بند کړی زموږ په گرېوانه

❀ ❀ ❀

لازمه دا چه وطن سانبال کو — دخپل وطن ټینگ موږ استقلال کو
ځان جارونه پر خپل وطنه — دا خوی خاصیت دی د هر افغانه

❀ ❀ ❀

په وینه یو یو هم په دین یو یو — په مسلک یو یو په آئین یو یو -
پاک رب مو یو دی، پېشوا مو یو دی — یو مو مذهب دی یو مو ایمانه

❀ ❀ ❀

راځی چه ټوله سره اوچت سو — ټول سره یو سو پر خپل غیرت سو
په ټینگ ایمان موږ د پښتنوالی — و خپل مقصود ته موږ سو روانه

❀ ❀ ❀

« نوری » خبری به نو اوس بس کو — داخپله مېنه به یو په لس کو
پرخپل کارو باندی به ډېر وس کو — بل ټینگو و به علم وعرفانه



یك منظره از باغ سر سبز و با صفای ریشخور چهاردهی



از مناظر وجا ها ی قابل دید جلال آ باد

سوز دل شاعر

بناغلی محمد یوسف خان « آئینه »

خجل زبخت سیاهم بشد شب دیجور — خراب گشتم و ویرانه ام نشد معمور
ستاره کور شدو چشم های من بیدار — نماند غصه دگر اینزمان بچشمم نور
گهی به گریه کنم ترلحاف وبالین را — کنم زسوز درون گاه، ناله چون شیپور
حقیقت آنقدرم درتلاش می دارد — که پای دار کشم پوست خویش چون منصور
چه مدعاست جهان را زهستی من زار
که سازگار به غم باشم وجداز سرور

غزل

بناغلی محمد اسمعیل خان « ملزم »

رویت چو گل درآئینه جوهر کشیده است — لعل لب تو طعنه بکوثر کشیده است
جانا ببین که سینه ات ازچاك پیراهن — مانند خورزجیب شفق سر کشیده است
نقاش صنع لم یزلی ابروی ترا — قوس مثال بال کبوتر کشیده است
ایدل نظر بچشم بصیرت نما ببین — خالق چها زخاك مکدر کشیده است
جانم فدای صانع مطلق شود که او — از خاك تیره همچو تو دلبر کشیده است
کردم زبس بمکتب غم مشق لاغری — «ملزم» تنم چو کاغذ مسطر کشیده است

❀ ❀ ❀

ای نازنین من چقدر تند خوستی — وی شوخ وشنگ دلبر من زشت گوستی
دایم کنی زصحبت ما ننگ وبا رقیب — پنهان زپیش دیده چومی در سبوستی
هردم زپیش چشم من خسته بگذری — ای عمر بی وفا تو مگر آب جوستی
کم طعنه زن که خاطر معشوقه رنجه شد — «ملزم» حقیقت اینکه تو خود هرزه گوستی

از اشعار تنی سن

نغمهٔ عشق ومرگ :

ترجمهٔ ع ، « صدقی »

عشق حقیقی شیرین است ، هرچند به نتیجهٔ نرسد .
مرگ شیرین است که آلام را بپایان می رساند .
نمیدانم کدام شیرین تر است ، نی من نمیدانم !

❀ ❀ ❀

عشق تو شیرین ؟ پس مرگ باید ناگوار وتلخ باشد .
عشق تو تلخ هستی ، مرگ بمن شیرین است
آه ای عشق اگر مرگ شیرینترست بگذار بمیرم .

❀ ❀ ❀

عشق شیرین است که گوئی پژمرده نمی شود .
مرگ شیرین است که مارا مانند گچ بدون عشق می سازد
نمیدانم کدام شیرین ترست ، نی من نمی دانم !

❀ ❀ ❀

آرزوی من است که دنبال عشق بیفتم ، اگر ممکن شود .
لازم است مرگ را اطاعت نمایم که مرا می طلبد
بخواه ومن اطاعت می کنم ، مطیع هستم ! بگذار بمیرم .

خدائی غاټوی

محمد اعظم ایازی

یوستړی ستومان سړی دخپل سفر په دوران کښ دیوه ځنګله څخه راووت او یو نظر غولوونکی شنېلی ته راورسېدی، دماښام وخت دی، لمر پر لوېدودی، دقدرت جذبات په ښور کښ دی، داسی یو عالم دی، هرچیری چه نظر رسیږی، پر هرشی چه نظر لوېږی، په زړه کښ داخیال پیدا کیږی، چه بس هم دغه ځای دی، لیکن ددې غمجن پرد ېس مخ وهیڅ ته نه ګرزی، دخپل معمولی جنون په خیال کښ ډوب دی، قدم دمخه ایږدی اوځی، چه نابېره ئې دیوه شنېلی په ښکلی مرغه کښ یوه زړه غولوونکې سرخی ولیدله، داسرخی په اصل کښ یو سور غاټوی ګل و، چه زړه کشوونکی ښایست ئی دماښام په تیاره کښ داسی ښه ښکاره کیدی، چه ددې یوازینی مسافر زړه ئې وخپل ځانته راکش کی، اوپرمخ تللای نه سو، په ډېر غورئې ورته و کتل او هېښ پېښ ورته ودرېدی، په آخر کښ کښېنوست چه دفطرت داوړو کې کتابچه دعبرت په سترګو وګوری، بیانووړاندی ولاړسی، داګل نه و، بلکه هره یوه پاڼه ئې دزړه وړونکی ښایست یو حقیقی تصویر و، یادفطرت دښایست دکتاب یو پاڼی وه، که څوك ددې مسافر دزړه دخیالاتو اندازه وکی، نوخدای ته معلومه ده چه څه څه شیان به دده په یاد راتله، اودکمی معشوقې خیال داصحرا ګښت او جهان لیدونکی مسافر وکمی خواته کشاوه، په خدائی ګل کښ څه اثرو، چه نابېره ئې دی ودراوه، خدای ته معلومه ده، چه په دنیا کښ به ئې څه څه باغونه اودپسرلی څه څه غوړېدلی ګلان لیدلی وی، لیکن یوه هم دده، پرزړه باندی داسی اغېزه ونه کړه لکه چه دې خدائی غاټوی و کړه، اصله خبره خو داده، چه دیوه شی روزنه چه دقدرت په لاس سوې وی، اوپه هرشی کښ چه دقدرت دمشاطې لاس وهلی سوی وی، دهغه جذبات اواثرات ترحد زیات ډېر وی، چه فقط په کتنی ئې دانسان زړه یو په یوه دلاسه وزی.

دنیا ددې خبری ازمویښت ډېر کړی دی، چه انسانی تکلفات، که څه هم دخپلو کاریګرو له خوا په ښه ډول ښکاره سوی وی، بیا هم دقدرت دیو ادنی صنعت سره هیڅکله برابری کولای نه سی، دا هغه مقام دی چه دخالقیت اومخلوقیت نازکه اومنلې سوې مسئله ثابتوی:

ددې خدائی دښتو او شنو سبزوته دغور په کتنه وګوری، چه ددوی په فطری رنګ او رنګین لمنی دهیڅ انسان لاس وهلی سوی نه دی، که څه هم خونداخستونکی هلته نه سته، لیکن بیا هم څنګه ښه ښکار یږی؟ رونې چینې په څه شان وهری خواته دخپل فطرت په میل په کښ بهیږی په ګډه الوتونکی مرغان په څه آزادی او خوشالی وهری خواته په کښ الوزی؟ او هرچرته چه ئې زړه وغواړی کښېنی اوچونېږی، ګلان اومرغې چه دقدرت دښوال په لاس په کښ ایښودل سوی دی، پرشنو مځکوئې په څه شان، چه دانسان عقل ورته حیرانیږی، غوړیږی اوشنې کیږی، دامنظره دمځکی په هغو حصو کښ چه دانسان دزیار په لاس جوړی سوی اوشایسته سوی دی، چاتر اوسه لیدلې نه ده هغه بی تکلفی چه هلته ده، دلته ئې زرمه هم نه سته، هرشی په خپل ځای کښ آزاد دی، مرغان هرچیری چه و غواړی په آزادی سره الوزی اوکښېنی، هیڅوك کار نه په لری، ولې هری خواته چه ئې زړه غواړی بهیږی، ونی، هرچیری اوپه هرځای کښ چه ئې زړه وغواړی شنی کیږی - ګلان په خپلی آزادی سره، هرچیری چه وغواړی شنه اوغوړیږی، او وخت چه ئې راسی په خپله رژیږی اوپیزی کیږی، اونورئې پرځای شنه کیږی، لیکن ددوی پیزیتوب دشنېلی پرمنظری باندی هیڅ اثرنه اچوی، دوی داسی خوشال اوبی غمه وی چه دهیڅ پیزیتوب څخه نه غمجن کیږی، دهرشی غمجن توب اوخوشالی یوازی دخپل ځان دپاره وی آه! دالطف اوخوند، دابی غمی اوآزادی په هغو ځایو کښ چیری سته، چه دانسان په لاس جوړ سوی دی؛ های: هلته خوخدائی غاټوی نه سته، چه زړه کشوونکی وی، دبڼ هرګل خوپه ډېره تمنا سره ددرو یاڅلورو ورځو دپاره غوړیږی، که څه هم په سلو پسرلی راسی، اودعلم نباتات په زرو اصول ایجادسی، لیکن حقیقت خو

دادی ، که ئې دخدائی دښتو سره مقابله وسی، نوداتول باغ به دخدائی دښتو دیوه غاټوی سره برابری ونه کی !

دافقط پرباغ باندی تړلی نه ده ، بلکه که دانسان او دقدرت دکارو مقابله یودبله سره وسی ، نوز موږ دازړه کشوونکی شیان به ډېر بد په نظر راسی !

دښار وعالیشانی ماڼۍ ، او لوړی لوړی ودانۍ چه هره یوه پرخپل ځای عالیشانه ښکاره کیږی ، لیکن که دریگستان هغه منظره ولیدله سی ، چه هلته دریگوسپینی اوښایستې غونډۍ دمارپه شان پهمیلومیلو لیری تللی دی، اوتازه هوا تل په آزادی په کښ چلیږ ی ، کې ددې ماڼیو سره مقابله وسی ، نودامانی سره ددې شانه هیڅ نه ورته معلومیږی ، او دانسان زړه ځنی اخسته کیږی اوبی اختیاره ئې پهزړه کښ داخیال پیدا کیږی ، چه، های! کشکی می دلته استوگه وای، که څه هم ددې غونډ یوپه شا وخوا کښ استوگنه په سلو تکلیفونه لری، لیکن نه پوهیږم چه قدرت ددوی پهسادگی کښ څه ښایست ایښیدی ، چه زړه سره ددې ټولو تکلیفو دزغملو، بیاهم ددوی وخواته مایل دی، حقیقت خودادی ، چه دوی هم دخپلو ځایو خدائی غاټوی دی !

پهدنیا کښ پهسلورونهاوی لیدلی کیږی ، چه معمولی رونهاوی هم نه دی ، بلکه هغه رونهاوی دی، چه نووحکماو پهډېر حکمت او کوښښ سره پیدا کړی دی ، لیکن دچا پهخیال کښ داهم راځی چه دا رونهاوی بهداسمان دځلاندو ستورودرونهاو سره برابره وکی ، ددې ستوری پهرونها کښ داهم سته ، چه ځنی لږ اوځنی ډېر ځلیږی، ځنی دمر غلرو دماتوامیلو پهشان تیت اوخپاره دی ، منگر سره ددې، ددوی ځلیده داسی ښکاره کیږی، چه ددوی درونها پهمقابله کښ دا مصنوعی رونړاوې هیڅ حیثیت نه لری، که دغوریه کتنه ورته وکتل سی، داستوری هم په حقیقت کښ یودول خدائی غاټوی دی، ولی چه دوی دقدرت دکاریگر دلاس خاصی نمونې دی، خدائی غاټوی فقط هغه سور گل نه دی، چه پهزړه کښ ئې یوتورتپ دی، او زموږ شاعران دعاشقانو زړونه دهغه سره تشبیه کوی، بلکه هرهغه شی چه دقدرت دفیاضی یوه نمونه وی، اودفطرت په قالب کښ جوړسوی وی، او پهبی تکلفانه سادگی د دنیا و خلقوته ښکاره کیږی، یوخدائی غاټوی دی؛ دار وښان امر، دا دخورلسمی سپوږمۍ، داد تو ری شپې ځلانده ستوری داشین اوپراخ اسمان، داتوری اوسپینی اوریځی ، داجگ جگ غرونه، که می پهرشتیا وپوښتې هریو پرخپل ځای یوخدائی غاټوی دی .

ولوړو اوپراخو ماڼیوته دبرقی پیکو په واسطه هوا راځی. زړونه اودماغونه پهتازه کیږی لیکن هر کله چه داهوا دانسان دحکمت پهلاس جوړه سوې ده، نوپهدې کښ هغه لطافت اوفرحت نه سته ، لکه چه دقدرت دیوپراخ دښت اودشنبلی دسحارپه نسیم کښ سته، پردی هوا باندی دانسان دتدبیر دلاس هیڅ اثرلویدلی نه دی، اوپرپراخو اوخلاصو دښتو د خدای تعالی په قدرت سره په ډېره آزادی وهری خواته چلیږ ی؛

ښکلی گلونه

توماس کاپین

دښاغلی محمدهاشم خان پردیس ترجمه :

ښه ژند

هغه څوك ښه ژوند لری . . . !

چه په زړه کښ ئې خیانت نه وی . . . !

هغه څوك . . . !

چه سرئې دغرور څخه ډك نه وی . . . !

هغه څوك . . . ! چه ورځی ئې په بی ضرره خوشحالیو تیریږی . . . !

هغه څوك . . . ـ چه قناعت لری اودخپلو امیدو ریشخند نه گرزی . . . !

هغه سړی نو . . . !

دځان ساتنی دپاره . . . ! برجو اووسلوته اړنه دی . . . !
یوازی دی به په رنو ستر گو . . . !
دمځکی او اسمان دطوفانو ننداري کوی . . . !
دی . . . ! دبخت اوطالع پروا نلری . . . !
دده کتاب نړی ده . . . ! اوددده عقل . . . ! دنړی شیان . . . !
دده ملگری ښه فکرونه دی . . . !
دده ثروت . . . ! ښه صرفیدونکی عمردی . . . !
مځکه . . . ! ده ته یوه تیاره لار ده چه غلی سفر پر کوی . . . !

رحم :

لکه زی باران داسمان ځخه را اوری . . . !
بیانو دوه‌تنه خوند ځینی اخلی . . . !
هغه چه رحم کوی ، اوهغه چه رحم پر کیږی . . . !
دلوړو سره لوړایسی . . . !
دباچهانو سره ترتاج لاښه خوند کوی . . . !
دبادشاه توره . . . !
چه لوړ والی اوقوت ښکاره کوی . . . !
دډار اوبېری سبب ده . . . !
ځورحم . . . !
ترتوری هم لوړ دی . . . !
ځکه چه توره په لاس اورحم په زړه کی وی . . . !
رحم دلوی خدای صفت دی . . . !
رحم انصاف زیږ وی . . . !
ځکه نو درحم دعا کوو . . . !
اودغه دعاموږ پوهوی چه باید رحم‌و لرو . . . !

(شکسپیر)

د دنیا مینه :

دنیا زښته راباندی گرانه ده . . . !
خپلی قواوی موتولی ورته خاصی کړیدی . . . !
خوشی . . . !
طبیعی شیانو ته مولږ پام دی . . . !
مینه نه ورسره لرو . . . !
نه دبحر سره چه سیوږ می ئې په غېږ کی نیولې ده . . . !
نه دوږ مې سره چه لکه گل کله خپریږی او کله تولیږی . . . !
موږ بې لاری سوی یو . . . !
هېڅ شی پرموږ تأثیر نلری . . . !

(وردس‌ورت)

مشاهیر

ملا حسن اسحق زی

ښاغلی عبدالحی خان « حبیبی »

ملاحسن په‌خټه اسحق زی اودتلوکان دکلی دی چه‌دقندهار دښاره دغه کلی(۲۲) میله دلمراوپدواړخ ته پروت دی دافاضل اوزاهد بزرگوار عالم د خپل عمریه (۶۸) کال‌په سنه (۱۲۴۵ه) کښې وفات او دقند هار په‌تلوکان نومی کلی کښې‌ددې فاضل‌ادیب مزار ترا وسه دخلقو مرجع‌دی (۱)

ملاحسن ترځلمی توبه دعلومو په تحصیل بخت‌ؤ او له ابتداددہ، طبیعت عاشقانه ، اود شوق او گدازه ډ ك و، او دځوانۍ او دتحصیل ترورځو وروسته دده پر مزاج یو خاص کیفیت طاری سواو په غرو نواورغو به پښې پیل گرزیدی اودعشق اومحبت په‌نشه به‌داسی‌سرشارو، چه دنیا او مافیها ته ئې نه کتله ، ملا حسن د قند ها ر مشهو ر میانورمحمدته چه‌په(پوټی‌میا) مشهوردی عقیدت درلود(۲)

توله ژوندون ئې په روحانی خوندو کښې تېر کړی اودخپل عصرمعروف دینی راهنماو، چه‌تراوسه لاهم خلق دده په‌زیارت تشرف مومی اواولاده ئې تراوسه هم په تلوکان کښې‌سته، داسی ښکار ېږی چه ملاحسن اخوندپه دغه ځای کښې په ۱۱۷۷ ه کال تولد او د قند ها ر په شاوخوا کښې لوی شوی و ،

دملاصاحب ژوندون له ډېره سوزه سره‌تېر شو ی دی ،اشعارئې توله دعاشقانه ژوندون‌رنگ او نقشه‌راښئی .

ده‌چه په‌پښتو اوپارسوخه لیکلی دی هغه ئې‌هم ددغه جذب اواستغراق په‌زمانه کښې لیکلی‌دی، هم داسبب‌د ی چه‌دده ویناډېره سوځونکی اوله کیفه ډکه ده .

اشعار اوافکار :

مرحوم ملاحسن دخپل عصرډېر لوی عالم او فاضل اوزاهد اوبزرگواروچه‌یوه روانه اوخوږه دشعر طبع ئې درلوده، لیکن‌ددې بزرگوار اشعارځکه چه د سرشارعشق اودپا کو جذباتو هنداره ده، پرهر اروېد ونکی باندی خورا ډېره اغیزه کوی .

دده اشعار په حقیقت دعشق په‌اورکښې دسوی زړگی هغه وریتی شوی کتري‌دی، چه‌دالفاظو په‌صو رت کښې ئې دکا غذ په‌مخ ځای نیولی‌او ددیوان شکل ئې اختیا ر کړیدی .

دده‌شعر چه دخوږ اوژوبل زړه ترجمان دی په‌پښتو کښې ډېراهمیت لری اودده پاك احساسات اولوړه‌فر یحه اوادبی اقتدار ښه څرگندوی .

دملاحسن‌اخوند اشعارپه تأثر اواغیزه کښې بیله‌قلندره بل‌ساری نلری، اوسړی‌داسی‌گڼی چه‌دخپل خوږمن زړه دخپلو اشعاروپه الفاظو کښې نغښتلی دی، دی په پښتو یو بشپړ دیوان لری، چه‌ډېر نادردی نورتألیفونه‌ئی‌هم کړی دی، چه‌دده دلمسو په لاس کښې دی، او نشرشوی ندی یوپاړ سودیوان هم چه تر پنځه زره بیته پوری رسېږی .

دملاصاحب یادگاردی، چه په (۱۲۰۱ه) کال ئې له‌نظمه فارغ سوی دی .

دده ذخوږ واشعارو څخه ځنی ډېراثر ناك او بدیع دی چه دعوامو په‌سینو کښې محفوظ پراته‌دی، او خو له په‌خوله‌ئې‌زمانه یوبل ته رانقلو ی .

---

(۱) تاریخچهٔ شعرپښتو .

(۲) سپینی پښې می درباط په‌پوټی‌وسوی خپل‌اشنا په تش نظرنه‌راته گوری

ملاحسن د حضور نبوی (ص) سره ډېره مینه لری ، دې مینې دی دحجاز پاکی مځکی تهوروستلی ، اودبیت الله شریف احرام ئی تړلی ، اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم دمقدس زیارت شرف ئې حاصل کړیدی . زموږ زمین شاعر په دې عشقی سفر کښې خواږه اشعار ویلی ، اودزړه اورئې دشعر په قطعاتو کښې خرگندکړی دی ، چه له دغو اشعاروڅخه یو څه دا دی :

❀ ❀ ❀

که یون دی یون دی ، زړ گیه یون دی
د فانی سرایه ، آخر بیلتون دی
راشه زیارت به د مدینې کړو
په مدینه کښې حضرت مدفون دی

❀ ❀ ❀

زه چه پر لوری د خپل دلبر ځم
سترگی نعلینی او پاس پر سر ځم
لکه جهاز چه پر لوی دریاب ځی
داسی تېز روه پر بحر و بر ځم

❀ ❀ ❀

دحسن د پښتو خوږ کلام ډېر اثر ناك اوددردمنو احساساتو څخه ډك او مهیج دی ، خصوصاً د ده رباعیات په خپل فوق العاده ابتکار اوسلاست اوشورانگیزی کښې لوړه درجه لری ، او ملاحسن دپښتو شاعرانو په لړی ـ ډله کښې گڼل کیږی او داویلای سو ، چه په دې له درده او اغیز ودکو ویناو ، دی یو وتلی او پیاوړی ادیب دی

د وینا نمونه :

د سهار باده قرارمه اوسه
په شتاب در ومه احوال می یوسه
ورته می عرض که ، دخدای دپاره
فارغ له حاله ، ځما مه او سه

❀ ❀ ❀

دسهار باده ، خو شبو نسیمه
احوال می یو سه د یار تر سیمه
ورته می عرض که ، د خدای دپاره
په صورت ایرې شوم په زړه دوه نیمه

❀ ❀ ❀

ما غزه می ایشی ، د سرله تا به
صورت می وسو ، سینه کبابه
بل خو به نه وی ، پدې وطن کښې
لکه چه زه یم ، خانه خرابه

❀ ❀ ❀

یاره چه ته ئې پر هغه لوری
غم خو دی نه وی ښادی دی اوری
د عشق بر ښنادی یو وار ښکاره که
چه ښه جمال دی خواران وگوری !
هغه چاری چه زما په خاطر اوری
شیخ ئې نه وینی په خوب ملا په توری
ماویل زه به لادیدن کړم دیارانو
زه چه راغلم یاران نسته مینې توری
سپینی پښې می درباط پر پوټی وسوی
خپل اشنای په تش نظر نه راته گوری
چه چندن لره ورځی خپل سر به بایلی
دا بی مارانو ځای دچندن سیوری
د چند نو ونی وسو لېدې ولاړی
داښاخونه ئې کاږه دحق پر لوری
د « حسن » برخه دغه شوه له ازله
چه همیش دښا یسته و مخ ته گوری
د « حسن » زړگی هغو معشوقو یو وړ
چه مدام تر پلو لاندی سترگی توری

په دې لوړو بیتو کښې درې پلا (توری) هر ځای په بیله معنی ذکر شوی ، اودبدلی ادبی قیمت ئې ورډېر کړی دی .

دپښتو معنوی مزایا

ښاغلی عبدالرؤف « بینوا »

خوشماري دمخه موږ د(پښتو بدیعی ښېګڼی) په نامه څه پلټنی کړی وې اودبدیعی قواعدو سره موپښتو ژبه‌تریو ځایه تطبیق کړی وه ، ښه‌ښه مثالونه موهم راوړی وه یوڅه مهال چه داتطبیق په‌مجله کښې نه‌و داسبب وچه ما دپښتو لفظی صنایع دکابل دسالنامې دپاره تطبیق کول اوس می‌هغه دصحافت وخانګی ته وسپارل ، په سالنامه کښې به نشرسی -

دمعنوی صنایعو څخه یوڅه برخه مادمخه لیکلې وه لکه التفات ، تنسیق الصفات ، مطابقة مستضاد ، اونور . . . .

یوڅه بیا په تېره شماره کښې ښاغلی ملګری « رشتین » تطبیق کړی او لیکلی وه لکه حسن تعلیل ، حسن طلب او نور . . .

نوهغه څه چه پاته دی دا ختصار پرډول به ئې دویونکو وحضورته وړاندی کم :-

تشبیهات

۱ :- مطلق تشبیه :- چه په هیڅ قید مقیده نه وی مثلاً خوشحال خان وائی :-

دامید غوټی می‌واړه شګفته سی
چه دی وو ینم پر ما لکه صبا یې

په پورته تشبیه کښې شاعردمشبه اومشبه به په‌منځ کښې څه قیدنه دی ایښی -

۲:- مشروطه تشبیه :-چه‌په‌یوه شرط پوری مشروطه وی ، لکه پیرمحمد چه‌وائی :-

مخ که دی ګلشن دی یاڅراغ دی یاسور ګل
زه یا ندی بورایم یا پتنګ یم یا بلبل
زه خو جو هری یاشین طوطی یامی پر ست یم
لب که دی یا قوت دی یا شکردی یامل

۳ :- دتفضیل تشبیه :- چه‌یوشی دبله‌سره مشابه کړی یاوروسته مشبه ته‌پرمشبه به‌تفضیل ورکړی خوشحال خان ویلی دی :-

چه مخ و ته دی ګورم لکه نمرهسی ځلیږی
قربان دی ترجمال شم په معناتر نمره غټ ئې

شاعر یووار معشوق دلمره سره تشبیه کوی ، بیا بیرته ورته وائی چه ته‌ترلمر تفضیل لرې .

٤:- دتسویت تشبیه :- چه‌ویونکی خپل صفت دمطلوب له‌صفته‌سره‌مساوی وبولی :- مثلاً ګل محمد وائی :-

لکه څنی چه دی ستاپر مخ پر یشانی
هسی شان می دخاطر پر یشانی ده

شاعر دخپل خاطر پر یشانی دمحبوب دزلفو دپر یشانی سره مساوی کړه .

٥ :- داضمار تشبیه:- چه په ښکاره ئې تشبیه نه وی کړې ، مګر دکلام له ویلو څخه تشبیه څرګندیږی لکه پیر محمد چه وائی :

محبوبا پر پالنګ واوښته په‌خوب کښې
که هو سی وه دبهار پر ګلو ر غښته

یا لکه حنان چه وائی :

تبسم ئې له دشنامه سره زیب کا
قدر زیات لری تر خه چه شی شراب

تبصره :- د کنایی تشبیه مثال په دغو شما رو کښ لیکل شوی دی ،

ایهام

داداسی صنعت دی چه ویونکی په نثر یا نظم کی یوداسی لفظرا وړی چه دوې معناوی ولری - یوه لیری ؛ بله نژدې ، خوك چه ئې ولولی نو وار دو اره ئې ذهن ونژدې معناته ولاړسی ، مگر دویونکی مقصد لیری معناوی لکه پیر محمد چه ویلی دی :-

جدائی په غم شریك کړم دغمجنو
دهرچا پرغاړه ژاړم لکه نی

مقصد غاړه ده ، نو لیری دلو ستو نکی دا خیال وی چه مطلب دغاړی خخه (گردن) دی ، مگر د شاعر مقصد له غاړی خخه (طرز ، ادا ، روش) دی -

اغراق

یوه مبالغه ده چه په واقع کښ ممکنه نه وی ، مگر ویونکی خپل کلام په خوږ کړی وی لکه دا لنډی :-

داچه سور ښکاری شفق نه دی
آه می دزړه په اسمان اورو لگاونه

سیاقة الاعداد

چه دممدوح ډېر صفتونه پرله پسی راوړی لکه خوشحال خان چه وائی :

ناز ، نخرې ، مهر ، خندا ، فتنې ، جنگونه
دخپل یار سره هم تا ز ده دا رنگونه

قلب مطلب

داصنعت دی چه ویونکی خپل عبارت سره واړوی مثلاً گل محمد ویلی :-

ماپه سل کرته یادکړې ته را نغلې
زه به سل کرته در شم که تا یاد کړم

رجوع

داهغه صنعت دی چه شاعر یو کلام ووائی ، بیا بیرته دهغه کلام ابطال وکړی اوبل کلام ووائی مثلاً : خوشحال خان فرمائی :-

کهښه وایم وچاته هم ئې بد نیسی په زړه کښ
یابخت دی دمغلو یا خما خه عقل کم دی
نه بخت دی دمغلونه زه هیڅ په عقل کم یم
داکل واړه پیری ده چه می کار برهم درهم دی

په دوهم بیت کښ رجوع شوې ده .

چه دقام په ننگ کښ ومری هغه زوی
په عالم کښ دخپل پلار غاړه کړی لکه

❀ ❀ ❀

چه ننگ کا ننگیالی وی ورته پیش دی دادوه کاره
یا کام دننگ حاصل کا یا بی مینه سپیره کیږی

(خوشحال خان ختك)

دغالی او بون کلمې

ښاغلی صدیق‌الله خان «رشتین»

دادوې کلمې دپښتو دمخصوصو کلمو څخه یاپه بل عبارت دپښتو الحاقی کلمې‌دی، چه‌دیوې‌معنی دپیدا کولو دپاره داسماو په‌آخر کښې ملحقیږی . زه غواړم چه‌ددې دواړو کلمو په‌خوا وشا کښې خپله‌نظریه اوتتبع ښکاره ، اوبیان کړم -

۱:- بون : داکلمه مستقل استعمال نه لری ، دنورو کلمو سره په‌الحاقی صورت استعمالیږی ، اواستعمال‌ئې دوه صورته لری : یواصلی صورت دی اوبل‌فرعی یعنی تخفیفی صورت ، اصلی صورت ئې لکه شیر بون (۱) زمربون (۲) او تخفیفی صورت ئې لکه خربه ، شتربه ، کوربه، دی. ددې کلمې استعمال په‌پښتو کښې‌البته ښکاره اوخرګند دی . اوس خبره داده چه‌ددې کلمې معنی‌څه ده، او دڅه‌مطلب دپاره استعمالیږی؟ خومره چه مونږته دمثالونو دتحقیق اوکښته پورته کولو نه‌معلومه شوې ده هغه داده چه داکلمه دصاحب - یعنی څښتن او خاوند او اداره کوونکی په‌معنی استعمالیږی - شیربون څه‌معنی؟ یعنی دزمروخاوند ، کوربه ، دکورخاوند. شیربون‌دپښتنو په‌تاریخ کښې دپښتنو دیولوی نیکه نوم دی چونکه‌پښتانه ټول زمریان اوپه میدانکښې شیران دی نو ددوی مشر اونیکه باید ځانته دزمریانو څښتن یعنی مشر ووائی .

دارنګ‌دسړبې کلمه ، چه‌دپښتنو یولوړنیکه اواوس یو لوی قام دی ، ځما په خیال دسړی او «بون» څخه مرکبه شوې ده . په اصل کښې سړی بون‌و ، یعنی دسړو اودرجالو مالك ، فایده‌مشر «ی» دترکیب په‌وجه‌حذف شوې ده ، لکه چه قاعده ده حروف علت یاپه‌بل عبارت خفیف حرفونه دترکیب په‌وخت کښې حذفیږی . او واو د کلمې دثقل په‌وجه چه‌په «ړ» سره پیدا شوی دی ، غورځیدلی دی ، دغه ثقل په‌شیربون کښې نه‌لیدل کیږی ، نوځکه دشیربون‌واو نه‌دی حذف شوی. دارنګ کوربه چه‌د«بون» تخفیفی صورت‌دی ، د«کوردخښتن» په‌معنی دی . په‌دې صورت کښې - غوبه ، خربه ، اسبه ، قچربه ، شیربه ، شتربه ، اوښبه ، ګوبه ، ډېر مثالونه پیدا کیږی په دې مثالونو کښې «به» یا مخففه «بون» دخرونکی او چلوونکی په معنی استعمال شوی دی ، ګوبه اوغوبه هغه څوك دی چه ګوی بزې‌اوغویان‌څروی ، اواوښبه‌اوخربه هغه څوك دی چه اوښان اوخره چلوی . دامعنی ګانی دمالکیت اوخاوندوالی سره لازمی معنی‌ګانې‌دی ، په هر صورت دمالکیت اوخښتن‌والی معنی‌پکښې موجودیږی دشیربون اوزمربون مثالونه خو واضح اوخرګند دی ، اماپه‌دغه نورو مثالونو کښې کیږی چه‌لوستونکی په شك اوشبه کښې ولویږی چه خربه اواوښبه خرنګه په اصل کښې خربون او «اوښ بون» دی . مګر امید دی چه وروسته به‌ئې دغه شك اوشبهه ووځی .

دغه مثالونه چه مونږ راوړل ، ټول مفرد مثالونه‌وو، غواړو چه جمع‌ئې هم راوړو . دشیربون اوزمربون، یعنی اصلی مثالونو جمع شیربانه او زمربانه را ځی . داقیاسی جمع‌ده . دمفرد واوپه‌الف بدلیږی ، دحروفو علت تبدیل په‌پښتو کښې‌قیاس‌دی . لکه‌په‌زوړ اوموړ اوشپون اوپښتون کښې چه‌په‌زاړه ، ماړه،شپانه ، پښتانه جمع کیږی . اوپه آخر کښې‌ئې «صوتی‌هی» یااصطلاحاً «غیرملفوظی هې» راوړلی شی . دغه «هی» چه‌د «پښتانه اوشپانه» په آخر کښې، دارنګ ټولې «هی‌ګانی» چه‌ددغسی‌جمعو په آخر کښې‌زیاتیږی ؛ «صوتی‌هې‌ګانی»دی. «صوتی‌هې‌ګانی» د صوت دطوالت دپاره راوړلی‌شی ، اودصوت د طوالت نه مطلب دکلمې تحسین او آهنګ دی .

مثلا که «پښتان» ووایو ، نو بالکل یوه بی آهنګه

---

(۱) شیربون نومیده دقندهار په لور یوپښتون و. (تاریخ مرصع)

(۲) نیکه پلارمی پښتانه وویم پښتون زمری یم زمرزی‌یم زمربون (یوفاضل پښتون)

کلمه کیږی . نو ځکه دځینو جمعو په آخر کښ « صوتی هې » زیاتولی شی . اومفرد مؤنث ئې قیاساً شیربنه ،زمربنه راځی واو دمفرد حذفیږی په آخر کښ ئې ملفوظې هی، یاپه بل عبارت تانیثی « هی » راوړلی شی لکه زوړ (۱) موړ . سوړ چه مفرد مؤنث ئې زړه ، مړه، سړه راځی .

راغلو تخفیفی مثالونو ته ، تخفیفی مثالونه هم عیناً داصلی مثالونو پشان جمع کیږی لکه کوربه کوربانه ، غوبه ، غوبانه ، خربه خربانه ، اومفرد مؤنث ئې کوربنه ، غوبنه راځی . ددې مثالونو دجمع مذکر او مفرد مؤنث څخه معلومیږی چه اصل ئې کوربون ، غوبون ، خربون، دی. ځکه چه دغه مبدله الف او نون چه په جمع مذکر کښ پیدا کیږی ؛ بی ددې چه مفرد ئې په « بون » وبولو بل رنګ قیاسی صورت نه لری . اوکه مفرد ئې کوربه ، غوبه ، خربه په « به » سره وبولو باید چه جمع ئې کوربی ، خربې ، راشی، اوداخو ښکاره غلطه ده .

نومعلومه شوه چه ددغه ټولو مثالونو اصلی صورت په « بون » دی. او وروسته تر ډېر استعمال ئې تخفیف موندلی دی. هر کله چه مفرد مذکر ئې په « بون » سره شو نومفرد مؤنث ئې هم داصلی صورت څخه جوړیږی ، لکه چه مخکښ مو وویل . ځنی کسان چونکه کوربه ، خربه ، غوبه ، اصلی صورت خیال کوی ، نوپه کوربنه، خربنه ، غوبنه کښ « نه » دمؤنث علامه ګڼی ، اما داخیال صحیح نه معلومیږی . ولی چه « هې » خو په اصل مذکر کښ هم شته ، په مؤنث کښ ئې صرف نون زیات شوی دی ، نوباید چه دغه کسان تش نون دمؤنث علامه وګڼی علاوه په دې څه ضرورده ؟ چه سړی یوه اساسی اومطرده قاعده پیدا کولی شی ، اوغیر مطرد قاعدې پسی به ګرځی. قاعده هغه ده چه مخکښ مو وویله، مګر یو دمېلمه (۲) مثال شاذ اوبا لکل نادردی ددې مثال دپاره چونکه داسی یوه مطرده قاعده نه پیدا کیږی ، نو باید چه شاذ خلاف القیاس ورته ووایو .

۲ـ غالی: دا کلمه هم لکه « بون » په پښتو کښ مستقل استعمال نه لری ، دنورو کلمو سره په الحاقی صورت استعمالیږی، دا کلمه دظرف کلمه ده: او د « ځای » په معنی راځی، لکه اورغالی (آتش دان) . ددې کلمې دپیدا کولو لمړی فخر دښاغلی « اخلاص » داتحاد مشرقی موجوده معاون په نوم تمامیږی، ده داتحاد مشرقی د ۲۲ کال په ٤٨ ګڼه کښ دغالی دظرفیت په باب کښ ښه تتبع کړې ده، اوزیات مثالونه ئې پیدا کړی دی. هغه مثالونه دادی، پنډغالی (موضع جمع آوری) هغه ځای ته وائی چه شپانه پکښ بږې راغونډوی، کوغالی، ژورغالی (جای چقور) دهرژور ځای دپاره استعمالیږی، اوعلی الخصوص هغه ژور ځای ته وائی چه په وریجو کښ ئې دکورتو اچولو دپاره جوړ کړی وی، دارنګ دغالی په نسبت داتحاد مشرقی په ۲۳ کال (۱) ګڼه کښ بل چاهم د(ع،ك) په امضایوه مقاله لیکلې ده، ده دښاغلی اخلاص دمثالونو تصدیق کړی دی، او علاوه دستر غلی مثال ئې هم راوړی دی، چه په اصل کښ « سترګه غالی » و دده یو بل مثال « لوب غالی » ځما ډېر خوښ شو، دالغت که اوس مونږ دلوبو اودسپورټ دمیدان دپاره مستعمل کړو، ډېر موزون اوبهتر به وی ، دښاغلی اخلاص او (ع،ك) تتبع اوپلټنه په دی باب کښ، دډېر تقدیر وړ ګڼل شی دوی دپښتو په لار کښ یونوی شی میدان ته را وکیښ اوهرچاته ئې دفکر اوتتبع موقع په لاس ورکړه، .

دښاغلی اخلاص مثالونه صحیح اوپر ځای دی، اودغالی کلمه دظرفیت دپاره ډېره موزونه ده . مګر داستعمال په باره کښ ئې ځما خپل فکر دادی ، که مونږ وغواړو چه دا کلمه دظرف دپاره په نو ومثالونو کښ استعمال کړو نوباید چه دځای اوموضع تخصیص ته قایل شو، اوپه هر ځای کښ ئې استعمال نه کړو، ځکه چه دظرف دپاره څه نورې کلمې هم شته لکه « ځای » او « تون » نوباید چه دادرې واړه کلمې داستعمال په لحاظ څه نه څه فرق او اختصاص ولری .

دغالی کلمه ځما په خیال « دغولی » نه جوړه شوې ده « غولی » (صحن) خوهر څوك پیژنی چه هغه محدود ، دڅو دیوالونو ترمینځ ځای ته وائی. واوپه الف بدل شوی، لکه چه قاعده ده اوغالی شوی دی ، نو غالی په حقیقت کښ

---

(۱) داقاعده مطرده نه ده. په ځینی مثالونو کښ واو نه حذفیږی ، لکه تود ، توده ، تور ، توره ، مګر داقاعده د کلمې دثقل او عدم ثقل پوری تعلق لری . په ثقیلو کلمو کښ حذفیږی اوپه خفیفو کښ نه حذفیږی .

(۲) مېلمه لکه دکوربه غوندی په میلمانه جمع کیږی اومونث ئې مېلمنه راځی .

دمطلق ځای معنی نه ښندی، بلکه غالی لکه د غولی دیو خاص، محدود ځای دپاره استعمالیږی، او که مونږ ئې دظرفیت دپاره قبلوو، نو باید چه په خاصو مواضعو کښ ئې استعمال کړو، د کوغالی، اورغالی، پنډغالی دمثالونو څخه هم واضح معلومیږی چه دغالی استعمال په خاصو ځایونو کښ دی. بله خبره داده چه دغالی اصل څه رنګ چه «غولی» دی، اوغولی تقریبا یو غیر محترم ځای دی، نوغالی هم په دغسی مواضعو کښ استعمالیږی؛ چه غیر محترم وی، له دغه مخکښ مثالونو څخه داخبره ښه ثابتیږی، پنډغالی هغه ځای ته وائی چه وزې پکښ راټولیږی، دسړو داجتماع ځای ته پنډغالی نشی ویلی، ولی چه کوم ځای کښ چه انسانان جمع کیږی هغه ځای محترم وی اودانوم دمحترمو مواضعو دپاره نه استعمالیږی. دارنګ اورغالی او کوغالی دداسی مواضعو دپاره استعمالیږی، چه هغه هم تقریبا غیر محترم وی نولدې کبله غالی مونږ عموماً په هر ځای کښ نشو استعمالولی. نو په دغه اعتبار دتعلیمګاه اومکتب د پاره «ښوون غالی» او لوست غالی موزون نه معلومیږی، تعلیمګاه اومکتب محترم اوغیر مبتذل مواضع دی، د داسی ځایونو دپاره د «ځای» او «تون» استعمال صحیح او موزون دی نو لازمه ده چه ددې درې واړه کلمو څخه په مناسب مناسب ځایونو کښ کار واخستل شی دتعلیمګاه د پاره ښوون ځی، دمکتب دپاره «لوست ځی» ددارالفنون د پاره «پوهنتون» دنمایشګاه دپاره «نندارتون» اودلوبو دمیدان دپاره «لوب غالی» صحیح اوموزون استعمال دی. په دې باب کښ ځمارأی اوپلټنه داوه ممکن چه نور پښتانه هم پکښ خپله نظریه ښکاره کړی!

❀ ❀ ❀

پښتو ټولنه: دښاغلی ملګری رشتین دغه قیمتی نظریات اوعلمی پلټنی خوراخوږې دی، اوپر مستندو لغوی اوصرفی اساسونو بنادی، پښتو ټولنه دد وی له ښو تحقیقاتو څخه تشکر کوی، اودنورو پښتنو رأی هم په دې موضوع کښ غواړی.

ننګیالی

ننګیالی چه د همت توره تر ملا کا ډېر لښکر ئی تر همت پوری کاروان دی

❀ ❀ ❀

چه دننګ په چارونر نه وی «خوشحاله» چه ئی نرو ینی په ستر ګوهم ماده دی

(خوشحال خان خټک)

افسانهٔ کابل

غرزی

گولدسمت

د ښاغلی سلطان محمد خان «تره کی» ترجمه

په دې قصه کښې د انګلیس مشهور ادیب ګولډسمت د اجتماعی ژوندون ضرورت او ښېګڼې په ښه ډول ښوولی دی، چه په لږ تغیر په پښتو ترجمه سوه؛

غرزی دجګ او خورالو غره په لمن کښې اوسېدی چه دهغه سر او څوکه به تل په توره اوریخ کښې پټه وه او له لیری څخه به خوراویره وړی او مهیب ښکارېدی دهغه غره په څنګ او ګړنګو کښې ئې دانسانانو د ټولنی او دهغه تکالیفو څخه لحان خوندی کړی او په هغه وچراغه کښې ئې له تهذیب او تمدن څخه لحان پټ ساتلی او تل به ئې دانسانانو له کړو څخه تره کوله.

غرزی دخپل زلمیتوب تولهدوره دانسانانو په ټولنه کښې تېره کړې وه، او تل دهغو په غم او خوشحالی کښې ور ګډسوی و، دی داسی روزلی سوی وچه تول انسانان او وګړی ئې په یوه ستر ګه کتله، او تول بشر ئې ملت او دنیا ئې وطن باله. لحکه چه غرزی دخورا زړه سوی چښتن و، او خپله مرسته او کمک ئې له هیچانه سپماوه، نو له دې جهته، ده خپله تول بدائی او ثروت دخوار انو او بې وزلو خلګو په آرامتیا اولاس نیوی کښې ولګوله، او دهیچا دغو ښتنی لاس ئې ورپر شانګړ، او هیڅ ستړی او ستومانه پر دېس دده له وره څخه نامینده نه وتېر سوی، ده له خپلی مرستی او نیکۍ څخه هغه وخت لاس واخیست، چه دی بیخی خوار او نیستمن سو، او دمرستی په مړوند کښې ئې هیڅ طاقت او قوت نسو پاته. هغه وخت چه دی پخپله دنیستۍ او غریبۍ په لومه خپ سو، نوده له خپلو نېکو کارو او مرستو څخه تل دیوې ښې او بشپړی نتیجی هیله او امید درلود، او ویل به ئې ګوندی هغه چه می کړلی دی وبه ئې ریم؛ یعنی مقابلتاً به له ماسره هم ښه مرسته او کمک وسی. خوده ته هیچا دمرستی او کمک لاس نه ورغزاوه او نه چا پرده زړسوی او رقت وکی برسېره پردې یو څو موده وروسته د دنیا ناوړ وحواد ثودا ډول سره کښېکښې چه دده هغه واړه خواهشات او غوښتنې ئې په سپېر ووخاور وورولړلې او په ډول ډول سختیو او اضطرابو اخته سو، نو له دې جهته دی دانسانو له تهذیب او تمدن څخه قطعاً بیزاره او متنفر سو او هغه ته یې په سیکه سترګه کتل، او ویل به ئې چه په دنیا کښې بیله ریاکارۍ، او غولولو، او ښه هېرولو، بل هیڅ د ښېګڼو مفهوم نسته لحکه چه ده وهر انسان ته په تره سره کتل، نو له دې سببه له ده سره هم هغسی مقابله کېده، او په خپل محیط کښې دهر چا بد ایسېدی، او په نتیجه کښې دخلګو له خوا د ډول وضعیت ورسره کېدی، چه وهغه ته دده هیڅ توقع او هیله نه وه او دی ئې خورا غمجن او متاثر کړ، او تینګ عزم او اراده ئې وکړله چه له انسانانو څخه جلا او بېل خپل ژوند وکی، او بیله خپله زړه او فکره بل ملګری نه ولری، غرزی سمدلاسه خپله اراده او عزم عملی کی، او دهغه جګ غره پرلوری رارهی سو، او هلته ئې دخپل لحان د خوندی کولو د پاره یو غار وتاکی، او په هغه کښې ئې استوګنه غوره کړه، ده به دغره میوې خوړلې او د چښلو د پاره ئې له خورالیری چینو څخه او به راوړې په همدې

ډول ئې: له ټولنې او انسانانو څخه جلا یو څو موده ژند وکړ، دی د اجتماع څخه یوازی او په فکر وکښ غرق او کله کله به په دې مغروره سو، چه زه له خپلو هم نوعو خلګو څخه قطعاً ازاد او بېله دد وی له مرستی هم ژوند کولای سم، کښته دغره په لمن کښ یو ښه او ګلالی ډنډ وچه دهغه په رونړو او صفا او بو کښ دغره د څوکی عکس په خورا ښه ډول ښکاریدی او غرزی به کله کله دخپلی استوګنی له غاره ددې ښه شنه ډنډ دلید ودپاره له غره څخه را کښته کېدی، او دهغه ډنډ پر غاړه به د تماشې او سیل دپاره یو څه وخت درېدی، او د ډنډ دشنی سطح او غولی په لیدلو به خورا خوښ و، چه احساسات به ئې وخوځیدل نو نابو بره به ئې له خولې څخه ووتل چه «څو نه ښه او ښکلی منظره ده»، دا نړۍ څو نه ښائسته ده! دغره په لمن کښ دشنه ډنډ هواره سطح څو نه ښکلی ده!

خو بیا هم دا ښکلې او ګلالی منظره ددې غره سره چه خپله څوکه ئې په اور یځو کښ تل پټه کړېده، سیالی او برابری نسی کولای، او نه دهغه په فوائد وپسی رسېدلای سی، څکه چه د دغه غره له سره څخه په سوورودوته او به جوړېږی، بیا دهغو او بو په مرسته سره په مختلفو ملکو کښ ډول، ډول ګلان او میوې پیدا کیږی، د کائناتو هر ټوک بېله انسانه ښائسته او ښکلی دی او موزون او معقول دی خو تنها انسان دفطرت یو نقص باله شی! په کائناتو کښ هر شی دلید واو کتلو وړ دی، او خورا خوږ او فایده من دی خو لیکن بدطینته احسان هېرېدونکی انسان د کائناتو د جمال پر ښائسته مخ باندی یو ټپلی دی آه! که انسانان قطعاً له بدو خلاص وای نو به هر چیری یو والی، مرسته، زړسوی هم و، او دا دنیا چه دلوی څښتن له کائناتو څخه ده، د صداقت او یو والی یوه غوره او بشپړه به نمونه وای! نو آه اې لویه خدایه زه به تر څو په دې اضطراب کښ ژوند تېروم او تر کمه وخته پوری به زه په شك او شبه او مایوسی کښ شپې سهار کوم، دا دنامنیدی خبری ئې په خورا یأس له خولې څخه ووتلې او هڅه ئې وکړه چه ځان په ډنډ کښ وغور ځوی او له دې زحمته ډك ژوندون څخه بېغمه سی، خو نابو بره ئې یو خورا ښکلی حیوان ولید چه دا بو پر مخ باندی دده ولورته راروان دی، نو ده هم دهغه پر لید او خپله لمړنۍ اراده معطله کړه او ودرېدی، په ډېر غور ئې تر یو ګړی پوری دهغه په لیدو کښ فکر واهه، او داور ته ښکاره سوه چه په دې حیوان کښ د تقدس مظاهر سته دغونه وو چه هغه په یو لوړ زغ ورته وویل، اې سړیه! ودرېږه داد شتاب او تلیوار اراده دی پر ېږده خدای تعالی ستا انصاف، رښتیا او تکلیفو نه لیدلی دی، او زه ئې ستا دزړه د ډاډ او سکون او آرام دپاره رالېږلې یم، خپل لاس وماته را کړه او بې له خوف او ویری له ماسره راځه، ګوره، زه دهغو خلګو د اصلاح او سمولو دپاره مقرریم، چه دوی دارادې له صداقته څخه ګمراه کیږی! اې سړیه! په ماپسی راځه غرزی ژر دهغه حیوان په لار ښوونه او ویلو په هغه ډنډ کښ ورګډ او دا و بو پر مخ باندی یو ځای ورسره رهی سو، هغه وخت چه دوی دواړه د ډنډ ومنځ ته ورسېدل نو ډوب سول، د دوی تر سرو د او بو څپی لوړی او تیری سولې، او دوی په سوو ګز وژورو او بو کښ کښته کېدل، غرزی د خپله ژونده څخه لانه وو نامینده سوی، چه نابو بره ده خپل ځان په یوه بله دنیا کښ چه تر اوسه پوری هلته هیڅ انسانی قدم نه وو ایښو دسوی ولید، ده دسکون څخه ډك آسمان او لمر ولیدل، او تر پښو لاندی ئې شنه واښه هم ولیدل، او ډېر هیښ سو.

هغه ورته وویل زه ستا په اریانتوب پوهیږم، لیکن لږ څه صبر وکړه، ددې دنیا هو ښیاران او او سېدونکی ستا پر خیالاتو سم دی، دوی دبدۍ څخه بیخی لیری او خلاص دی، په نورو حالاتو کښ دا ځای ستا له متروك ځایه سره برابر دی، خو تش فرق ئې دونه دی، چه دا په داسی انسانانو سره ودان دی چه هیڅ کله خطا او غلطیا نه کوی، که ته دا ځای نسبت تر هغه ځای چه ته اوس ځنی راغلې ډېر خوښوې، نو وتاته پوره اجازه ده چه ته دخپل ژوند پاته ورځی دلته تېری کړې زه ستا د مرستی دپاره در سره یم، او هر څه در ښیم!

غرزی په خورا خوازه او دمینی ډك زغ سره وویل چه: خدایه ستا ډېر شکر کوم، چه تا زما غوښتنی ومنلې او زه دی دا ډول دنیاته راوستم چه بدۍ او آزارونه دلته هیڅ نسته، او انسانان ئې هم له بدو لیری دی! دا دنیا په یقین سره دخو شحالی او عشرت او سکون ځای دی! دا دنیا چه وګړی ئې له درواغو او بې انصافۍ او جبر او ظلم څخه لیری دی تل دی ودانه وی!

هغه ملګری ورته وویل پر ېږده دا خبری او تعریف!

خپلو څلوروخواوته پەژوره کتنه وگوره هرشی چەزموږ مخی له راځی هغه تەپه غور سره فکر کوه ، اوبیا دخپلو کتنو نتیجەوماته راښیه هرچیری چەته وغواړې ، زەتاته لارښوونه کوم، غرزی اودده ملگری یو گړی په پټه خوله سره تلل ، او غرزی دحیرانې په ژور سیند کښ ډوب وو، دغه وخت دده پەزړه کښ ورتېره سوه ، چه دادنیا خوله هغه بلی دنیاسره چەاوس ځنی راغلو د ونه توپیر نه لری، صرف دافرق ئې دی ، چه دانړۍ هیڅ ډول نوی اوښه تعمیرات اوآبادۍ نلری . بیائې په لوړ ږغ سره ورته وویل دلته چه زه گورم ښکار کوو نکی او نور بل ډول حیوانات خاص دځانو دپاره دی دغه خبره په پورتنۍ دنیا کښ هم وه ، لیکن کەوماته اجازه را کړې سوې وای ، مابه خدای تعالی ته عرض کړی وای ، چه داخونړی څاروی چه ددوی کارتش دکمزورو اوبې وا کوحیواناتو خوړل اودهغوور کول دی ورك کړی وای !

ملگری ئې ومسل اووې ویل زوپوهیږم چه تەدڅه ډول ضعیفو حیواناتودپاره، رحم اوفکر لرې ، لکه چه ودی ویل داد نیا د هغی دنیا سره یو مخ مشابهت لرې، د دی اسبابو نه هم ښکاره دی په دې ډول چه داڅر گنده ده که دگردو حیوانانو خواړه واښه وی، نو پر مځکه باندی به دونو ډېرو حیوانا تو ژوندون نسوای کولای، همدغه سبب دی چەدوی یوبل سره خوری ، او داعمل ددوی دشمېرد ډیروالی هم لوی موجب گرزی ،لیکن داخبری اواتری اوس پریږده ، پښی را واخله چه وهغه مخامخ کوروته ورسو، اووگورو چەهلته دهدایت اوبصیرت دپاره څەسته، دوی ژرله ځنگله څخه راووتل او دبیگناهو اومعصومانو په ودانی گډسول .

غرزی پەدې هیله سره خوشحاله وچه اوس بەدخپلو لمړنی تصوراتو نتیجەلاس ته راوړم یعنی له بیگناهو او ښو خلگو سره به لیدنه او ملاقات وکوم . خودغونەو ، چه دهغی دنیا یوسړی ئې ولید چه دموږ کانوله یوه کنډك څخه په خورا بیړه زغلی او دهغو له تاوانه څخه ځان ژغوری . غرزی په زوره چیغه وکړه چه « خدایه ومی ژغورې » داولی دداسی خوارو او ضعیفو حیوانانو څخه زغلی ، دده ددغو څخه څه بېره او خوف کیږی ؟ په دغه ویلو کښ و چه وې کتل دوه سپی پەیوبل انسان پسی زغلی ، او دا انسان د ډېری ویری پەحالت کښ دځان دساتنی او نجات دپاره په ډیره بیړه سره ځان ځنی پټوی ، غرزی په لوړ ږغ سره و خپل ملگری ته وویل ، چه داخو ډیر د تعجب او ناپوهۍ سبب دی زه نه پوهیږم چه دداسی حرکاتو علت به څه وی ؟

ملگری ځواب ورکی، چه خبره داده چه دحیوانانو هر جنس په دې دنیا کښ قوت او زور موندلی دی ، لمړی د دې ځای اوسېدونکو داخیال اوفکر وکی ،چه کەدغه حیوانان پەظلم اوستم سره مړه اوتباه کړو، نوداخو به ډېره بی انصافی وی نوئې ځکه وهغوته هیڅ ضرر اونقصان نه ورورساوی، پەپای کښ ئې نتیجه داوخته چەددوی شمېر اوتعداد دونه زیات سو، چەسړی پەحیرت کښ ورته پاتېږی ، نو ځکه دوی اوس پربیگناهو اومعصوموانسانانو او خلگو باندی یرغل کوی ؛ غرزی پەدرانه ږغ سره ورته وویل چه باید داظالمان ئې تباه کړی وای ، اوترڅو چەئې لاس رسېدای ، هغه ئې له منځه ایستلی وای ، ځکه چه ددوی ترحم بده اوناوړه نتیجه ښندلې ده ، ملگری ئې ومسل او ځواب ئې ورکی چه : ددوی دتباه کېدو او مړه کېدو عملیات خوستاله اوسنۍ عقیدې څخه چەویل دی باید پر ضعیفو او کمزورو حیواناتوظلم نه وسی برخلاف دی ، ته چەاوس دغەوائې نوستادغه لمړنی عقیده څه سوه؟ لەدې ویناخودی داډول ښکاره کیږی، چه خپل پخوانی انصاف دی هېر کړ. غرزی ورته وویل ، چەپەرښتیا سره زه باید پەخپله خطا اوسهو باندی قانع سم ځکه چەزه اوس پەدې پوه سوم چەکەزه دخپل ځان هوسائی اوراحت پەدنیا کښ وغواړم نوښائی چه پر نوروحیوانانو باندی ظلم اوتشدد اوبې انصافی وکړم ، ملگری ئې خبره غوڅه کړه اوورتەوې ویل ، چه اوس داخبری پرېږده راسه وگورو چه پر انسان باندی خوار اوبی وسه حیوانات څەحق لری ؟ اودرځه وگورو چەدلته دانسانانو تعلقات دیوه دبلەسره څرنگەدی هرڅو چەدوی پەدغه ملك کښ پرمخ تلل دغرزی حیرت زیاتېدی، ځکه چه هلته دښو اوښکلو عماراتو اوآبادیو هیڅ نښه او آثار نه ښکارېده . نه ښهر وجود درلود اونه ښه فنون په نظر راتلل. دده لارښوونکی اورهنماچه دی ئې په داسی حیرت کښ غرق ولید ورته وویل ، چه ددې نوی دنیا اوسېدونکی پر خپله پخوانی ساده والی باندی په پوره ډول سره قانع دی . هرڅوك یوه ودانی لری ، کەڅەهم

معمولی اوساده وی ، لیکن دده دوړوکی کور او کهول دپاره بس ده ، داخلګ دونه نیك اوښه دی چه دودانی جوړول نه خو ښوی ، ځکه که یوسړی ښه ودانه جوړه کړی ، بیائې دهغی په نسبت غرور زیاتیږی او هم له بله پلوه نور کتو نکی پر هغه باندی رشك او حسدوړی ، نوهرڅه چه‌دوی ودانوی ، صرف دژوندون داحتیاجاتو درفع کولو دپاره‌ئې جوړه وی ؛ اوپه‌هغه کښ دنندارو اونمائش هیڅ ملاحظه اومراعات نه لری .

غرزی ورته وویل‌چه :ـ که‌خبره داډول وی نوددوی په‌دې ټولنی اواجتماع کښ به ، معمار ، مصور کاڼی کړپ هم نه وی ! ځکه چه دابیکاره فنون‌دی اوبیله‌دې هم کار چلیږی ، خو که‌ته ماددې ځای دیوڅوښو پوهانو وګړو سره معرفی کړې ، نوزه‌به‌له تاڅخه ډېر خوښ‌سم ځکه چه‌زه ترهرشی په‌فصیحه اوغوره وینا خورا خوشاله کیږم پوهنه اوښه وینا . . . . لارښوونکی ځواب ورکی داخو دلته یوه خبره‌ده چه دخنداوړده ، دلته پوهنه اوهښیاری لانسته ځکه‌چه دلته دهغی هیڅ اړتیانسته ، حقیقی هښیاری دهغو فرائضو دعلم نوم دی چه موږئې پر نورو باندی لرو ، اونورئې پرموږ باندی لری ، لیکن‌دلته داسی پوهنه اوهښیاری په څه کار راځی؟ دلته خوهرسړی کار کول خپله ټاکلې وظیفه بولی اوهغه اجرا کوی که‌ته‌بې مفاده غور اوفکر اوبې‌ځایه غوښتنه پوهنه بولې ! نو دا دواړه خبری له‌حرصه اوعیاشی څخه پیدا کیږی ، او ددې ځای داښه اورښتنی وګړی داډول پوهنه‌خپل کسب‌او کارنه‌ګڼی.

غرزی ورته وویل چه ستا داګرده خبره صحیح ده مګر زه وینم چه داخلك داسی خفه اوغمجن دی او هریو بیله ټولنی او اجتماع څخه‌ځانته ځانته اوسی ، اودیوه دبل خوازه مجلس ځخه لیری اومحرومه دی .

ملګری ورته وویل بیله شکه صحیح ده ! په‌دې‌خلګو کښ ټولنه وجود نه لری ، او دلته دټولنی ضرورت هم نسته ، ځکه چه ګردی ټولنی یادویری اویا ددوستۍ له لامله جوړیږی خوددې هواد وګړی دونه ښه اونیك‌دی چه‌دوی دیوه بله څخه قطعاً نه‌ویریږی اوددوی کمالات اوفضائل ګرده سره مساوی اوبرابردی ، نودوی ځکه دیوه دبله سره هیڅ غرض اودوستی نه لری .

غرزی وویل که څه هم په‌دې‌ځای کښ ښه او ښکلی فنون نه وی خوزه به ددی ځای استوګنه دځان‌دپاره غوره کړم ، خو باید لږ ترلږه ، یو ملګری خو ومومم چه هغه خبری اتری راسره کوی .

ملګری ورته وویل ، دڅه مقصددپاره خبری ورسره کوې ؟ دلته‌غوره مالی اوډیره پلټنه عیب او بلکه منع‌ده او دهوښیاری ـ څوك پښتنه هم نه کوی !

غرزی وویل له دې جهته چه داو ګړی پر خپله هستی باندی قانع دی . او دخپل ژوندانه تر احتیاج زیات دډیر دولت دټولولو حریصانه کوښښ نه کوی ، نو خورابه خوشحال وی ، اوهم به هریو دونه وزګاروی ، چه خپلوهمنوعانوسره ښه مرسته وکوی ، ده دغه خبره لانه وه تمامه کړې چه دیوه سړی غمجن ږغ ئې تر غوږوسوچه‌په‌لارکی‌ناست‌اوپه خوراخواری اومصیبت ئی ژړل‌اودهای ، هوی چیغی‌ئې وهلې ، غرزی‌ژردهغه دډاډ ګیرنی دپاره وروز غاست چه وېلیدنوورته څرګنده سوه چه هغه سړی ددق دمرض په خورا شدید رنځ اخته و .

غرزی وویل ، داډیردتعجب اوحیرت ځای دی ! هغه وګړی چه دوی یومخ دبدی څخه خلاص وی او بیاهم سره له دغه ، دوی په داسی تکالیفو کښ اخته وی ، اوهیڅ راز زړسوی او مرسته نه ورسره کیږی ! هغه غمجن او ناجوړه سړی چه بالکل و مرګ ته نژدې او قریب و و ېویل دا هیڅ د حیرت اوتعجب ځای نه دی داسی‌خلګ چه دوی‌یوازی دخپل ژوندون دپاره یوڅه سامان برابره وی ، او په خپل ساده حیات او ژوندون باندی قناعت کوی ، او بیاهم دوی د خپلی خولې څخه یوه ګوله وګرزوی ، او زماپه خوله کښ ئې راواچوی نو د داراز کړوڅخه به د دوی پرخپل ځان باندی ظلم اوستم وسی ، ځکه ددوی څخه ترخپل ضرورت برسېره هیڅ شی نسته ، او هغه شیان چه دوی د خپل ژوند او حیات د تامین د پاره تهیه کړی دی هغه خووچاته نسی ور کولای !

غرزی بیا و ویل ، ښائی چه دوی تر خپل احتیاج زیات‌شیان را غونډ کړی وای ، مګر ددې څخه بیازما دیوې د قیقې ړمبنۍ رایه تردیدیږی ، و هری خواته شك دی ! سره له دې چه دلته د احسان هېرول نسته مګر بیا هم دلته هیڅ ښه او ښېګڼه نسته ځکه چه دلته

چادیوچاسره ښېګڼه اواحسان هم ندی کړی ! په دې صورت کښې شاید داخلګ بېله د هواددمینی اومحبته بل هیڅ فکر اوښېګڼه نه لری .

لارښوونکی ملګری د ډېری مهربانۍ او شفقت په ژغ سره ورته وویل چه :- غرزیه ! وزړه ته ډاډنه ورکه اوخپلی ګرده غوښتنی پر یوازی هښیاری او پوهنی باندی مه جاره وه ، ځکه چه ګرد خلګ د ځان د ګټو دپاره خپل هواددنورو پرهوادباندی ښکلی اوغوره بولی اوکه څوك فکرو کی بېله دې ، چه صرف په کائناتو کښې خیر خواهی او شفقت سته ، نور یوشی هم د بدۍ څخه ندی خلاص ! اوتې وینی چه دلته کائنات په عام ډول سره خیر خواهی او شفقت لری . غرزی په ډیره حیرانی سره ورته وویل چه :- زه دی له څرنګه عجیبی نړۍ سره معرفی کړی یم دلته خو بېله قناعته نور هیڅ نیکی او مرسته نسته ، اوددې ځای خلګ یوازی پرقناعت باندی ټینګ دی اوددې ځای دوګړوتهذیب د خوراوحشیانو ترتهذیب نه دی زیات ، اودلته هیڅ یو داسی مینه نسته چه دا خلګ باندی خوشحاله سی ، زړورتیا ، آزادی ، دوستی ، پوهنه ، ناسته و لاړه ، راشه درشه ، داګرده نعمتونه دلته نیست اوورك دی له دې څخه داڅرګندیږی ، چه داخلګ له بدۍ څخه ناخبره اونیکی نه پېژنی ، پرمامهربانه ملګریه ! ماوهغی نړۍ ته بیرته بوزه چه نفرت می ځنی کړی و ، زه اوس لعنت او نفرت اوښه هېرول پرځان ګاللای سم . ځکه چه زه اوس ددغومستحق سوی یم دازماښکاره او معلومه ناپوهی وه ، چه ماددنیا پرنظام اعتراض کاوه د نن په ایسته به زه ځان دبدې څخه ژغورم ، اوهغه کسان چه په بدی اخته وی ، پر هغو به رحم اوزړسوی کومه .

غرزی دغه خبره تماموله ، چه ملګری ئې بیا په توروا وریځو کښې په خوراوېروړی وضعیت سره پټ او په هغه کښې ورك سو . غرزی د دغی بېروونکی منظرې دلیدوڅخه ډیرحیران اوپه تعجب سو اودخپلی خیالی نړی و خواته ئې وکتل چه حواس ئې سره غونډ کړه نو ئې وکتل چه دی لا پرهغه لمړنی ځای باندی په هغه لمړنی حالت کښې دهغه شنه ډنډ پرڅنډه ولاړو او تراوسه لا پرشاسوی هم نه و ، خدای تعالی په دا یوه ګړی کښې دده پرروح باندی صدق اواخلاص نقش کی ، او هغه غرنۍ اودبیری استوګنه ئې پرېښوده ، او د پښتونخوا وخواته رهی سو ، او دهغی پوهنی اوهوښارۍ څخه ئې کارواخست چه په هغه تنها او یوازی استوګنه کښې ئې زده کړې وه ، نوهلته ئې په ډیر زیاروسو دا ګری ته لاس ورته کی ، په یوڅو کاله کښې چه ډېرزیارئې و کښل او سپماوی ئې وکولې ، نو دبډائۍ څښتن سو ، او په زیات او ډېرشمېرسره ئې مزدوران او خدمت ګاران وموندل او دهغه ښاردهری برخی څخه ئې دوستان دده دمجلس دپاره ورته راتلل ، اوده هیڅ دکرکی په سترګه نه ورته کتل او غمجنه ځوانی ئې د سپین زیر توب په بډائی سره الیشه سوه .

نه مومی راحت

که راحت غواړی پرځان محنت قبول کړه — بی محنته هیڅوك نه مومی راحت

❀ ❀ ❀

که دار و په خواست مونده شی مه ئې اخله — که دی مرګ وته نژدی کاندی زحمت

(خوشحال خان خټك)



درهٔ غوث بخراب

یکی از مناظر باغات پردرخت

چهاپخانه څنګه اختراع شوه ؟

ښاغلی برهان الدین خان « کښککی »

خورالنړ داسی کسان به‌وی، چه دهغو وخت دخلقو اړتیا (احتیاج) ته فکر وکوی چه په هغه وخت کښ چاپخانه‌نه‌وه اختراع شوې، اوهغوی کتابو او کتابخانونه در لودلو .

رښتیا داده چه په هغه‌وخت کښ چه د چهاپ ماشین لانه واختراع شوی، نه‌یوانحی عامو وګړوته، بلکه‌پوهانو او علماو ته هم د کتاب او کتابخانې پیدا کول . خومره آسان کار نه‌و. کتاب زیاتره په لویو مملکتو کښ خورا لنړ، اوپه کتابخانو پوری تړلی، او کتل ئې په مخصوصو شرطو په‌هغه ځای کښ منحصر و. اودیر کتابو نه به‌داسی هم‌وچه‌په ټول نړی (عالم) کښ له یوه یاد و و څخه نه زیاتیدل .

د کتاب لوستلو خونداواستفاده له کتابو څخه‌یوانحی لویو پاچاهانو اوشاهزادګانو اواوله درجه شتمنو اخیستی شو. اودیرلنړ داسی دارالعلومونه او عبادتخانی‌پیدا کیدلی چه کتابونه پکښ غونډ شوی وو. اود کتاب او کتابخانې خاوندان وو .

پخوانی کتابونه اوکتابخانی دلنړ توب (قلت) له‌خوا داوسنیو کتابو او کتابخانو سره هیڅ مناسبت اومشابهت نه‌لری. په‌اتلسمه اونونسمه پیړی کښ چه دپوهنی (علم) رڼا نژدې ټوله نړی (جهان) روښانه کړی او دکتنو اومطالعو میدان ډیرزیات شوی دی، کتابو نه او کتابخانې هم‌په داسی‌اندازه زیاتی‌شوی دی چه‌په هیڅ ډول‌دپخوانیو زمانوسره نه‌شی قیاس کیدلی . ځکه دپخوانیو کتابخانو کتابونه یاخطی کتابونه‌وویاهغه کتابونه ووچه‌په‌پوستکیو او تختو باندی هرمخ اوهره لیکه او پاڼی په عجیب دقت اوزیارد جوړو ونکو یاد لیکونکو په‌لاس‌په‌عجیب تحمل لیکلی‌اوجوړشوی‌وو. اوکه به‌چیری هغه کتابو نه دزمانې دحوادثو یاتیریدلو په‌سبب ورانیدل اوور کیدل به بیاهغه کتابونه په‌هیڅ ډول‌نه‌پیدا کیدل. اونه‌چا لاس ته‌راوستلی شوه اودجوړو ونکی اولیکونکی د کالو کالو زیار او زحمت خوشی اوبیخایه اوبو وی، او ټولی خوا ری- ئې خاوری کیدلی، او دالویه بدبختی‌هم مصنف‌یامؤلف‌یامترجم ته(چه‌ټولی خواری- اوزحمتو نه ئې بیخایه تلل) . اوهم دټولو انسانانو دپاره(چه د کتاب له قیمتی ذخیرې څخه بې‌برخی اومحروم پاتی کیدل) پیښیده له .

دهمدې بد وپیښو اوحا دثو دپیښیدلو په سبب ووچه زیاتره لیکونکو اود کتابو جوړوونکو به زیار کښ چه د کتابو پاڼی‌ئې ډیری ټینګی او دوام لرونکی وی. او کتاب ئې هیڅکله زیان‌نه‌شی، اوهر کتاب به‌ئې چه‌پای ته‌رسیدی نه‌یوانحی دعلم- حکمت ، معرفت او ادب یوه مجموعه به‌بلل کیده، بلکه دصنا ئعو یو لوی اومهم کارهم بلل کیدی، او د جوړو ونکی او لیکونکی خلا صیدل ، له‌هر کتاب څخه داسی وو، لکه چه دیوه خورا ګران او مهم کار څخه خلاص شو ی وی، اوکه به دیده مرغه هغه کتاب ورکیدی نودا یوداسی زیان‌و، چه‌هیڅ جبیره ئې بیا نه کیدله .

د کتاب دهمدی لنړ والی او سختی په سبب و و چه لوستونکی اواستفاده کوونکی‌ئې‌هم خورالنړوو، اویوانحی په‌لویو مملکتو کښ به‌لویو کسانو اوپوهانو دا کار کولی شواوبس . داهم ډیر ځله پیښیده له چه یوه عالم به زیار وکیښ اویو کتاب به‌ئې جوړ کړ، اوبل‌سړی به هغه ځنی‌پټ کړ، او څرنګه چه دتګ او راتګ وسیلی ډیری نه‌وی نو به‌ئې‌لیری ځای ته‌یووړو،اوهلته به‌ئې پخپل نامه‌وښودی اوځان به‌ئې دهغه کتاب مؤلف جوړ کړ، مګر نن ورځ چه دپخوا زمانې په‌زیاته خوشالی‌وښوچه ټوله دنیا د کتابو څخه ډکه‌ده ! اوهره ورځ به‌جهان کښ په سوو بلکه زرو او کروړو علمی - ادبی - اخلاقی - تربیوی - سیاسی-

اقتصادی اونور کتابونه چاپیږی او نوی الماری او صندوقونه ورته پکاریږی. اودا کتابونه سره ددی چه خورا ډېر ښائسته اوپه زښته ښه کاغذ باندی چاپ شوی دی، دومره ډېر ارزانه هم وی چه ویلی شوچه وړ یادی اوهر څوك چه لږ مینه اواستعداد اوپیسی ولری هر کتاب ئې چه په کاروی لاس ته ئې راوستلی شی، اوځان ته کتابخانه جوړولی شی، چه خپل دماغ په دهر ډول معلوماتو ډك کاندی!

نن ورځ بیا چې له پخوا د کتابو د جوړو ونکو د پاره دیوه کتاب ور کېدل په هیڅ ډول څو مره دخپګان اوپریشانی سبب نه کیږی. ځکه نن ورځ په دنیا کښ هر ځای خورا زیاتی چاپخانې شپه اوورځ پکار بختی دی اوهر کتاب چه څوك ئې تصنیف یا تالیف یا ترجمه کاندی په لږه موده کښ په زرو نسخې ځنی جوړوی او هر ځای ئې خوروی!

همدا ډول د دنیا په هر مملکت کښ ورځنی لیکی او هفتګی اخبارونه اورازرازمجلې او دراډیو نشریات خورېږی چه تولی د دنیا دنویو هرراز معلوماتو څخه ډکی او دا سی قیمتی ذخیری دی چه هر څوك دفراغت په وخت کښ هر ډول خورا ښه معلومات لاس ته ځنی راوستلی شی!

اوس نو آیا دالوی نعمت یعنی د کتابو او اخبارو اومجلو زیاتیدل چادبشر دپاره وړاندی کړی دی؟ که په ژوره کتنه ورته وکتل شی دالوی اوبی مثل نعمت دبشر دپاره هغه چالاس ته راوستلی دی چه دچاپ ماشین ئی اختراع او جوړ کړی دی چه تر تولولوی ئې (گوتانبرګ) نامی جرمنی دی داسړی په توله دنیا کښ دچاپ دماشین حقیقی مخترع بلل کیږی. عام لدی چه (گوتانبرګ) دچاپ دخو د کاره ماشین حقیقی مخترع وی که نه وی اوعام لدینه چه لکه پخوانی تاریخ کښ لیکل شویدی چه چینیانو هم پدی لوړ صنعت کښ مخکښ والی کړیدی اوعام لدې څخه چه د (گوتانبرګ) دژوند په وخت نورو کسانو هم دچاپ دماشین د کاملولو دپاره خپل وخت لګولی وی.

په دی مسئله کښ هیڅ د شك ځای نشته چه دچاپولو دصنعت اختراع کول دیوې قلمی نسخې له مخه په څوزرو نسخو باندی ترتولو هغو اخترا عاتو لویه ده چه د اختراع دزمانې داول څخه بیا تراوسه پوری په دنیا کښ شوی دی.

گوتانبرګ اوهغه کسان چه دچاپ په صنعت کښ ئې ښه زیار ښکلی اود کمال در جی ته ئې رسولی دی د بشر له حقیقی خدمت کوونکو څخه بلل کیږی. ځکه د محمد وی دزیار اوزحمت په سبب دی چه دبشر دنا پوهی تیاره ماغزه دعلم او ادب په ځلا نده رڼا باندی روښانه شول (ژان گوتانبرګ) لکه چه دلویو پوهانو اومختر عینو په تاریخ کښ لیکل شویدی په ۱۳۹۷ ع (٦٤٤) کاله په خوابه (میونخ) کښ وزیږیدی که څه هم داسړی دچاپخانې مخترع بولی، مگر په حقیقت کښ دی ددې اختراع مخترع او پیدا کوونکی نه وو، بلکه ددې کارپوره او کامل کوونکی وځکه چاپخانه په اوسنی ډول مگر نه په اوسنی کامل والی له (گوتانبرګ) څخه خورا زیاته پخواوه.

دپنځلسمی میلادی پېړۍ په اولو وختو کښ ئې په ځینو ځایو کښ دسکنې او چاقو په وسیله دلرگی د تختی په مخ باندی ځینی صورتونه، نقشونه گلبوتی تر دې چه ځینی نقلونه اوقصی په چپه ډول کینودل اودفشار پو سیله ئې دهغه وخت د کاغذ و په مخ باندی لکه مهر داسی چاپول اواثرونه به ئې ځنی ښکارول. داوروپا په تیره بیاد (پاریس) په لویو کتابخانو کښ ځینی لاتینی عکسونه او دپا دریانو دښلو اوعفو لیکنی او اخلاقی وعدې شته چه په پاس ډول په ډیرو نسخو کښ چاپ شو یدی مگر دا ډول چاپ د (گوتانبرګ) دچاپ سره په هیڅ ډول مشابهت نه لری.

د (گوتانبرګ) اختراع داوه چه جلاجلا توری ئې جوړ کړل اوهغه به ئې دماشین پوسیله خوځول اوپه پای کښ له هغو توریو څخه هر څومره چه په کاروی دومره جملې به ئې ځنی جوړولې. (گوتانبرګ) ددې فکر داختراع په اولو وختو کښ دخپل ملگری (دیرت زن) دمرګ څخه وروسته بیرته (میونخ) ته ورغی او ۱٤٥٠ ع کال کښ په دې باره کښ د (ژان فو ست) نامی شته منه سره شریك اوملگری شو او دده سره ئې داخپله اختراع چه څو کاله ئې پټه ساتلې وه ښکاره کړه او میدان ته ئې واچوله اوپوره کولو ته ئې ملاوتړله.

د ۱٤٥٦ ع کال داگست دمیاشتی څخه ئې لږ څه مخکښ توریت شریف دخپل ملگری پمر سته ډېر ښائسته په تیپو گرافی چاپ اونشر کړ له هغه څخه ورو سته ژر خلك خبر

شول چه‌دهغه وخت داختراعاتو پمینځ کښې حقیقي چاپخانه هم پیدا شوېده. له‌هغه څخه وروسته مخترع پخپله اختراع باندې نورڅه کارنه درلود بیله دې چه لدې خپلې مهمې اختراع څخه ئې ډېرې لوړې او ښې نتیجې واخیستلې. په دې وخت کښې دده پمخه کښې یولوی اشکال څرګند شواوهغه داوچه باید هغه توری چه تل ګرزی اوحرکت کوی تینګ اوپاتېدونکی کاندی. دارګی توری پدې واسطه چه‌نرم وو، زرسولېدل اودکاره لوېدل. دسربو توری سره ددې چه‌په ممکنه‌اندازه ئې ښه جوړ کړل‌مګر دماشین‌ترفشار لاندې چیتېدل‌داوسپنی توریو ددروندوالی پسبب کاغذ سوری کاوه، یوالخی له هغو توریو څخه‌ښه ګټه وشوه اوهرچا خوښ کړل چه دسربو او (انتیمون) څخه ګډجوړ شول.

مالی‌اشکالونه‌د (ګوتانبرګ)اودده‌دملګریو په تېره د(ژان‌فوسټ) پمخ کښې ډېر زیات‌وو. نوځکه (فوسټ) خپل پخوانی ملګری پرېښودل اوپه (١٤٥٥) کال کښې ئې ځان ته پخپله په کار بیل وکړو او(ګوتانبرګ) بیله دې چه په‌دې سبب بېزړه شی پخپله ئې دنو یو توریو او دچاپ دماشین‌په‌جوړولو بیل وکړواودخپل‌لیاقت په‌زورئې وکولی شوه‌چه‌داسی ماشین جوړ کاندی چه هره ورځ درې سوه پاڼې چاپ کاندی.

هغه زړه بدوالی اوخپګان چه (فوسټ) ئې له خپل ملګری (ګوتانبرګ) څخه جلاکړ او (فوسټ) دهغه په سبب عدلیې ته‌عرض وکړ په‌حقیقت کښې د(ګوتانبرګ) دپاره دفائده‌رسولو سبب شو ځکه په عدلیه کښې دعوی کولو دااختراع‌دنیاته وښودله اوحقائق هم ډېرژر ښکاره شول اوخلګ‌وپوهېدل‌چه‌هغه څېز چه (فوسټ) ګټه څنی کوی د(ګوتانبرګ) دزیار اوزحمتونتیجه ده.

دتوریو دویلی کولو په‌اثر ووچه دچاپ خانې اصلی ګټې اوکار ښکاره شول. په هغه وخت کښې دچاپخانې دوه ماشینونه په‌دنیا کښې ویو(فوسټ)اوبل د(ګوتانبرګ) چه‌دلمړنی نوم (پیر شوفر) اودبل (کونرا دهمری)و. ددی اختراع ډېروخت لانه وتېرشوی چه د(رائن) دلاری څخه(هالینډ) ته ورسېدله لکه چه یوسړی (لوران لوستر)نامی د(هارلم هالینډ) استېدونکی ځان په اروپا کښې دچاپ دماشین مخترع وښودی، مګر ښکاره ده چه دې سړی اوهم(پروکوب)د(اوینون) اوسېدونکی‌چه‌همداسی دعوی ئې کوله‌دواړود(ګوتانبرګ)پرمانه کښې ژوند کاوه او دچاپ داختراع په تحقیقاتو کښې شریک وو.

دنوی چاپخانی اختراع د(١٤٦٤) او (١٤٨٠ع) کالو کښې په‌منځ کښې په‌توله اروپا کښې دبرېښنا په شان خپره‌اوتیته‌شوه. په (١٤٦٩)ع کال کښې (کیوم فینجه) او(جان دولاپیر) د(سوربون) دشورا غړی‌په (پاریس) کښې دلمړی چاپخانې په جوړولو باندې بریالی شول.

دفرانسی دهغه وخت پاچا (یولسم‌لوئی) ددې‌نوی ګټور صنعت دوړاندې تګ په‌باره کښې ډېرزیارو کښې اوهغه‌ئې دهغه فن دپوهانو په‌لاس کښې چه (سوربون)وو ورکړه چه‌داپوهان (اویسریخ - ګرنیک ډوکتاس -مارتین کرانتزاومیکل‌فریبورژه) وو په (١٤٧٠ع) کال کښې (سیکس ریسنیژه) یوه چاپخانه په (نایل) کښې اوپه (١٤٦٩) کښې(ژان اسیر)پخپل واریوه‌چاپخانه په(وینز) اوپه (١٤٧٣ع) کښې (ماتیا کوروین) یوه بله چاپخانه په بوډا پسټ کښې‌د(اندلاهس)په‌وسیله ودرولی. په‌انګلستان کښې په ١٤٧٩ع کښې یوه چاپخانه جوړه شوه اودچاپ لمړی ماشین درول په (اکسفورډ) کښې‌د (تیمری روډ) د(کلونی) د اوسېدونکی په‌وسیله وشول او په (١٤٨٠) کښې دالمړی انګریزی چاپخانې خاوند (ویلیام کاستن) چه‌خومودده په (کلونی) کښې‌دچاپخانی شاګرد وو، اولنی انګریزی لیکلی په توریو چاپ کړ.

له‌هغه څخه وروسته دچاپ ماشینونه په‌توله دنیا کښې په‌ډېره بېړه زیات شول اودکاملولو اوډېرولو دپاره‌ئې زیات زیارونه وشوه.

داود چاپخانې دپیدا کېدلو لنډ تاریخ چه دباندینی مطبوعاتو څخه مواقتباس کړی اوپاس موو لیکلی مګر اوس دچاپ دماشینوانواع دومره زیاته شوې‌ده‌چه‌که په‌لنډول ئې هم ولیکلو خو کتابونه ورته پکار دی.

لوی احمد شاه بابا

محمد قدیر تره کی

درین تازه گی ها کتابی به‌عنوان فوق ازقلم توانای فاضل دانشمند عبدالحی خان حبیبی بیرون آمده عالم مطبوعات مارا مزین نمود این کتاب مجموعهٔ اشعار وسائر آثار نظم بزرگترین زعیم ملی ورهنمای ملت افغان احمدشاه بابای کبیر است که درایام حیات خود سروده ومانند دیگر مفاخر تاریخی ماتا کنون درپردهٔ نسیان مانده بود .

درقرن ۱۹ درضمن نهضت‌های ملی که دردول فرنگ آغازشده یکی مشغلهٔ نگارش تاریخ بوده است که باین صورت جوانان وفضلای ناسیونالیست (ملت خواه) خواستند دعاوی عظمت وامتیاز ملل خودشان رامستند به تاریخ نموده وبقوهٔ تاریخ مصداقی برای مدعیات شان دریابند درهمین وقت درضمن تاریخ مطلق که حاوی تمام حالات وواقعات ومراحل ترقی وتدنی ملل واقوام میباشد تاریخ‌های خصوصی دیگری ازقبیل تاریخ علوم ، تاریخ صنایع ، تاریخ ادیان ومذاهب ، تاریخ عسکریت تاریخ اقتصاد و . . . . . ظهور کرد وهر ملت خواست نشان بدهد درزمینه‌های مختلفهٔ فوق دارای قدامت تاریخی بوده ازین راه بردیگران مزیت ورجحان دارد و طبیعی است که این اوضاع درسر نوشت نظم ونثرهم تاثیر داشت وبارزترین تاثیریکه ازو درین موضوع دیده شد این است که رویهٔ نگارش آثارقدمارا که بطریق تذکره ودیوان مینوشتند منقلب کرده سبب ظهور تاریخ ادبیات وتاسیس مسلك معروف (انتقاد ادبی) گردیده بمدت کمی دیده شد که بجای تذکره ودواوین قدیمه یك سلسله آثار باسمای مختلفی مانند : تحلیلات ادبی ، انتقادات ادبی وتاریخ ادبیات روی کار آمد .

این رویه که نخستین باردرفرانسه آغازشد به‌مدت کمی درجرمنی ، دول بالکان وایطالیا وغیره سرایت کرده پیهم به ملل اسلامی مثل تورکیه ، ایران : هند ، عراق ومصر رسید وهمین است که درین اواخر یعنی درین دورهٔ نهضت علمی وعرفانی وارد مملکت ماهم شد واین کتاب (لوی احمد شاه بابا) نمونهٔ ازین گونه آثار است .

کتاب لوی احمدشابابا که درنظر نگارنده یکی از برجسته ترین ومهم‌ترین آثاریست که تا کنون درمملکت ما نوشته شده هم ازحیث تحقیق ودقت درمضامین وتفحص در وثائق وهم ازجنبهٔ طرز تصنیف وتألیف کتابی است که میتوان آن‌را درین زمینه یك کتاب متودیك (اصولی) گفت .

اینکه گفتیم کتاب لوی احمد شاه بابا کتاب اصولی است ازین جهت است که :

کتبیکه امروز درزمینهٔ اشعار . نظم ونثر نوشته می شوداز دو اصول بیرون نیست یانویسندهٔ خود را کاملاً پابند وثیقه نموده ازان هیچ تجاوزی نمی کند و کلمات وآثار گوینده را همان طوریکه هست بدون مداخلهٔ ذوق وطبیعت خود مینویسد وبمعرض انتشار میگذارد .

این گونه آثاررا تاریخ ادبیات یاتذ کره ودیوان وثیقه وی نام داده نویسنده ومدون آن راتنها وثیقه نگار و ناقل نام میگذارد .

طریقهٔ دوم که درزبان علم به‌مکتب انتقادی تسمیه‌می شود چنین‌است که‌نویسنده‌اولاً وثائق راهمان‌طوریکه هست بدست میآردوبعدازان آن‌رابا آثار دیگری که‌دردست‌باشد مقابله میکند وفرق وتفاوت هائی را که در بین هردواثر ازحیث اسماواعلام ، اصطلاحات ، لغات و. . . . موجود است‌درحاشیهٔ همان‌نسخهٔ که‌متن‌قرارداده‌می‌شود مینویسند بعد ازان‌یك‌مرورعمومی بتمام‌گفته هاوابیات نموده ازان ها معانی بیرون میآرند ومقام صاحب اثر را در بین سائر گوینده گان ، علماء حکماوغیره ارائه مینمایند سپس محیط اجتماعی ، طبیعی ، دورهٔ تاریخیکه صاحب اثر دران زیسته بارجال بزرگ معاصر اوخاطر نشان‌مینمایند تامعلوم‌شود که محیط شاعرچه بوده واشعار شاعر درتحت چه‌ایجابات وعوامل سروده شده مثلاً آیاممکن است‌تازمانی وضعیت سیاسی افغانستان در دورهٔ سلاطین مغل خوانده نشود خوشحال‌خان‌را بفهمیم .

کتاب لوی احمدشاه بابا در تحت تاثیر و ایجابات همین طریقهٔ دوم نگارش یافته وازین جهت درخور هر گونه تحسین وتقدیر است‌زیرا مؤلف فاضل‌این کتاب در قسمت‌اول کتاب‌مذکورمقام‌وشخصیت بزرگ‌احمدشاه‌بابا را ازناحیهٔ علم ، اخلاق ، فلسفه ، محبت‌وطن ، اتحدملی ، تصوف ، صنایع بدیعه وسائر خصائصیکه شایستهٔ یك مرد بزرگی میباشدبارجال‌بزرگ علمی ، سیاسی ، ادبی‌و . . . معاصر آن زعیم کبیر نوشته که‌این مطالب ۱۶۲ صفحهٔ کتاب را اشغال کرده است .

بعدازین ۱۶۲ صفحه میتوان‌که آنرا درذات خودش نمونهٔ یك تحقیق خسته گی نا پذیر گفت مؤلف دانشمند آغازبه قسمت دوم‌یعنی (داحمد شاه‌بابا وینا) مینمایددرین قسمت‌اصل گفتار های بابای کبیررا متن‌قرار میدهد و در اثر تقابل دواوین مختلفه نکات لازمه راتصحیح و بحاشیهٔ کتاب میافزایدونیزدر بعضی از حواشی به‌مؤاخذی هم رجوع میکند وتاصفحهٔ ۳۸۲ میرسد و از صفحهٔ ۳۸۳ به ارائه‌مؤاخذ خود میپردازد و۹۱ اثری راکه‌درین زمینه مطالعه‌وبدستیاری آن‌هااین ارمغان‌نفیس رابماربار آورده اندنشان‌میدهند وسپس باسماءالرجال کتاب‌مشغول می‌شود ودرین قسمت کتاب را در۴۰۴ صفحه‌ختم مینماید .

قطع کتاب ربع تختهٔ کاغذ معمولی و بشکل‌مرغوب ونفیسی طبع شده .

چقدرمایهٔ خوش‌وقتی‌است‌که می بینیم درزمینهٔ ادبیات پښتو ورجال وگوینده‌گان این زبان هم اخیراً مشغولیت های شروع شده وآثار علمی ودقیقی که در مطبوعات خارجه میدیدیم وحسرت آن را میبردیم درمملکت ما هم آغازشده ودارای کتابهائی مثل احمد شاه بابای کبیر می شویم .

این کتاب درنظرمن ازچند حیث مهم است : اول اینکه یك کتاب مهم ودارای بسا تعلیمات و هدایات یك مرد بزرگ تاریخی ماست دوم ثمرهٔ یك سلسله زحمت ، تتبع و تحقیق خستگی نا پذیری بوده بدستیاری علم و بصیرت نگارش ومقدمهٔ آن درذات خود یك کتاب مهم علیحده ایست .

این ملاحظات وصدها ملاحظات دیگریکه ازگفتن آن‌هابواسطهٔ قلت صفحهٔ مجله خود داری شد مارا موظف میگرداند از یك طرف خدمات مؤلف جوان آن را تقدیر و بایشان تبریك بگوئیم وازطرف دیگر جوانان وسائر تشنه گان علم و معرفت را به قرائت آن توصیه ودانشمندان را ملتفت گردانیم که‌دامنهٔ این گونه تحقیقات را ازدست ندهند تابتوانیم آنچه اولیای بزرگ مملکت و شعور ملی افغان ازما تقاضا دارند انجام بدهیم .

پښتو لغتونه

خوش بختیم بر علاوهٔ ارمغان نفیسیکه پښتو ټولنه به عنوان کتاب (لوی احمد شاه بابا) بشماداد مژدهٔ طبع ونشر کتاب دیگری راکه درین تازه گی تحت عنوان (پښتولغتونه) از پښتو ټولنه نشر شده بدهیم .

چون کتب لغت درحقیقت حصاری برای جلوگیری ازتلف شدن واز بین رفتن لغات وتجمع آن میباشد پس خدمت ومقام این کتاب در عالم مطبوعات و زبان ملی پښتو بسیار بزرگ است و باید بسوی آن به نظر تقدیر

واهمیت نگاه کرد .

این کتاب دارای ده هزارلغت پښتو و ۷۹۲ صفحه وقطع کوچك وطبع زیبا وقشنگ نتیجهٔ زحمات و تفحص زیاد مؤلف و مدون و محرر فاضل آن جناب ښاغلی محمد اعظم خان «ایازی» معاون پښتو ټولنه میباشد .

کسانیکه به زبان ملی خود ذوق دارند و یا درتحت جریان و نهضت حاضر پښتو مائل آموختن زبان اند ازداشتن این اثرنفیس ومهم ناگزیرمیباشند پس ازیك طرف زحمات مؤلف دانشمند کتاب را تقدیر وازجانب دیگر علاقه مندان زبان پښتورابه ابتیاع این کتاب مهم وقیمت دار توصیه میکنیم .

مجلهٔ بانگه

تحت عنوان فوق مجلهٔ که ناشرافکارواعمال منتسبین بانك ملی میباشد تازه نشر شده چشم ما را که منتظر پیش رفت مطبوعات میباشیم روشن گردانید .

این مجله با قطع موجودهٔ مجلهٔ کابل در ۵۰ صفحه ازطرف ادارهٔ نشریات بانك ملی نشرشده دارای مزایای طباعتی ومقالات سودمند اقتصادی و بانکی میباشد .

مجلهٔ کابل طلوع این ستارهٔ جدید را به ادارهٔ نشریات بانك ملی تبریك و برای ایشان طلب موفقیت مینماید .

که نیکی بود یادگار

بیا تا جهانرا بید نسپریم — بکوشش همه دست نیکی بریم

نباشد همی نیك و بد پایدار — همان به که نیکی بود یادگار

(فردوسی)

درامه نویسی

اخیراً تحت عنوان فوق مقالهٔ از امریکا بما رسیده با مطالعات وملاحظات عالمانهٔ خود برخی از نوشته جات ما را مورد تقریظ وانتقاد قرار داده است .

نگارندهٔ مقاله شاغلی میر امان الدین خان انصاری یکی از جوانان محصل افغان در یونیورستیهٔ الینایز دول متحدهٔ امریکا است وطوریکه از نوشتهٔ شان فهمیده می شود جوان عالم وصاحب معلومات ودر عین حال دارای درد وآروز های ملی است ازین جهته ما افکار این جوان را تقدیر نموده سائر محصلین افغان را در خارج به مطالعهٔ آثار ملی شان تشویق وخواهان نظریات ایشان میباشیم .

شاغلی میر امان الدین خان انصاری درنگارش درامه طرفدار دبستان ره آلیزم (حقیقیون) اند وبر در امهٔ سرخ رود و غیره ازهمین ناحیه انتقاد میفرمایند .

این است اصل مقالهٔ ایشان : «ترکی»

❀ ❀ ❀

دوسال پیش انجمن ادبی برای اینکه فن درامه نویسی را دربین نویسنده گان وطن رواج دهد مسابقهٔ را بمعرض آزمایش گذاشت . اگرچه این فن درادبیات ما سابقه نداشت بازهم نویسندهای جوان ما بقدر امکان ازعهدهٔ این کار برآمده عدهٔ درامه‌هارا بانجمن اهدا کردند . این درامه‌ها برای آزمایش ابتدائی ابداً بد گفته شده نمی‌توانست ولی ازنقطهٔ نظر تکاملیکه درین رشته درادبیات غرب مشاهده میشود ازبسیار درك‌ها میشد درامه های مذکور موردبحث وتنقید قرار گیرند . از آن تاریخ به‌بعد درمطبوعات وطن درامه بسیار کم بنظر خورد . اکثر قرار معلوم عقب آن نگشتند. بعضی‌ها هم که گشتند چندان به‌خوب بودن وصحیح بودن شکل وطرز آن اهمیت نداده طوریکه دل شان شد چیزی نوشته ونام آنرا درامه گذاشتند چون مطبوعات وطن به‌بسیار ندرت بملاحظهٔ من می‌رسد بنابران نمیتوانم بامثلهٔ زیادی این مسئله را روشن سازم مثال مهمی که درین اواخر بنظرم رسید ووادار به‌تحریر این سطورم کرد همانا درامهٔ منظوم آقای محمدیوسف‌خان آئینه است . درین‌جا نمیخواهم آقای موصوف‌را مستقیماً مورد تنقید قرار دهم چه‌فرض می‌توان کرد که‌مشارالیه به‌مطالعهٔ درامه های امروزه زیاد موفق نشده بنابران درامهٔ شان بهیچ صورت نتوانسته است همان شکل وقوارهٔ را اختیار کند که سائر درامه ها بآن امتیاز وشناخته میشوند . تنها نام درامه کافی نیست یك داستان را باین نام معرفی کند . درامه ازخودقوانین واشکال معین وثابتی دارد . مطلب‌را واضح‌تر بیان کنم پارچهٔ ادبی که‌بنام «درامهٔ سرخ‌رود» بقلم آقای آئینه درمجلهٔ کابل نشر یافته بود درامه‌نی بلکه یك افسانهٔ منظوم بوده است .

حالانکه ما بین افسانه ودرامه فرق زیادی وجود دارد . همان طوریکه کوه خواجه‌صفارا کوه شیردراوزه گفته نمیتوانیم ، همان قسمیکه بز را گوسفند نامیده نمیتوانیم وهمان طوریکه مثنوی را غزل معرفی کرده نمی‌توانیم . درامهٔ سرخ رود راهم نمی‌توان باسم درامه بشناسیم . چون درامه نویسی تازه دروطن‌ما رواج یافته وهنوز تمام قوانین واصولیکه درنوشتن این‌فن بکار میرود برایما پوره معلوم نیست بنا بران انواع این مغالطه ها از مستحیلات نی بلکه از ممکنات است . برای کسانیکه درین‌رشته تایك‌اندازه معلومات ندارند لازم نی بلکه فرض است معلومات خود را بملاحظهٔ دیگران توسط جرائد مطبوعات برسانند . تابرای کسانیکه می خواهند درین راه کامیابی حاصل کنند سهولت پیش شده براه غلط نه پویند . اگر درامه‌های ابتدائی ما بشکل غلط نشرورواج یابد اولادان آینده که اعمال‌ماراسرمشق‌خود قرار خواهند داد نتیجتاً براه غلط خواهند رفت . فرمودهٔ سعدی را درین مورد بیاد آورده سرچشمه‌را به‌بیل بگریم تانه‌شود

درآینده از آن به‌قیل هم گذشته نتوانیم .

« درامهٔ سرخ رود » درشمارهٔ ۱۱۳ کابل نشر یافته بود . مجلهٔ کابل وقت زیادی گرفت تااینجا رسید واین اوراق‌هم وقت‌زیادی خواهدگرفت تابکابل برسد تاآنوقت شاید مردم دربارهٔ این درامه فراموش کرده باشند . پس برای اینکه بدانیم مسئله بر چیست خواننده‌گان را بشمارهٔ مذکور رجوع میدهیم .

پیش از اینکه سر مطلب بروم از آقای نویسندهٔ‌درامه دوستانه عذر خواسته خواهشمندم سطور ذیل را مبنی بر غرض حمل نکرده آن‌را تنقید نه‌پندارند .

« درامهٔ سرخ رود » (برای اینکه ازاشتباه دورمانم لفظ درامه را درقوسین‌قرارمیدهم) ازنقطهٔ نظر ادبیات فارسی یك پارچهٔ ادبی خوبی است . درتشبیه واستعاره واستعمال کلمات‌رنگین‌نویسنده‌دادقلم‌فرسائی‌داده وروی هم رفته‌یك افسانه گگ شرینی رابرشتهٔ نظم درآورده که‌خواندن‌آن‌شایدبعضی « بدیع » پسندان رامحظوظ دارد .

این پارچهٔ ادبی ازینکه حاوی همچنین یك افسانهٔ کوچك است باید بیش ازبیش قیمت واهمیت داده شود زیرامیلان مردم امروز ازهمه بیشتر طرف افسانه‌وقصهٔ ادبی است . وازینکه افسانه نویسی‌بطرز جدید درادبیات ماتازه‌داخل‌شده بایست ازهمه اولتر محتاط باشیم‌که افسانهٔ ماچه‌قسم باشد . یقین کلی است که مقصد ما از افسانه وداستان اکنون افسانهٔ « چار درویش » ورقه وگل‌شاه نیست . انواع افسانه های مزبور در اوقات پیشین قابل توجه‌بودند ولی‌امروز که ، مابا افسانه های حقیقی‌وطبیعی آشنا شده‌ایم نبایست خود را با نواع افسانه های قدیم مربوط وعلاقه مند بسازیم بحدی که امثال آن را آلان قلم برداشته‌انشاء کنم.پوست کنده عرض‌میکنم، ماامروز افسانه های حقیقی وطبیعی می خواهیم نه موهومی . افسانهٔ می خواهیم که حقائق حیات را آشکار سازد . افسانهٔ‌می‌خواهیم که مسائل اجتماعی واخلاقی جامعهٔ مارا حاوی باشد . افسانهٔ می خواهیم که با معاملهٔ روز مرهٔ ماتماس داشته باشد روی هم رفته افسانه راست بنظر بخورد وحقیقی معلوم شود نه آنکه مانند « چارپری » و« گل بکاولی » افکار واحساسات مارا بازهم باموهومات و مسائل پا در هوامنشوش وسرگردان دارد . یك‌تودهٔ بزرگ جامعهٔ ماهنوز تحت تاثیر افسانه های قدیم واقع بوده افکار شان باموهومات وخدمات زنجیر پیچ است مناسب است ازین‌بیشتراین زنجیررا استحکام دهیم‌یااین دیواررابرپانگهداریم یااین درخت راتحت‌تربیه وپرورش قرار دهیم؟ نه‌خیروظیفه مااست که بابیل وکودال وچکش این زنجیر رابسکلانیم . این دیوار راازتهداب بکنیم‌این درخت راازریشه‌برآوریم . بیل وچکش وکودال مادرین مورد چه‌باشد ؟ حقیقت وراستی ! این مسائل باید به‌لباس حقیقت توسط نویسنده ها و ادبای مابجا معه تقدیم گردد. راستی وحقیقتی که هر کس آن را بخواند بفهمدو بداند وبامسائل چاردورخود سنجیده ومقابله بتواند .

حقیقت نه‌تنها نفس واقعه وداستان راتشکیل دهدبلکه لفظ وعبارات هم تحت این قانون آید . اکثریه به‌تتبع ادبای گذشته می خواهیم درنوشته های خود لغت های کلان . تشبیات بزرگ واستعارات کنته استعمال کنیم شاید عدهٔ درین زمینه کامیاب‌شویم واثرهای قابل‌اهمیتی را بمردم تقدیم کنیم ولی اکثراً بقدری درپی آوردن تشبیه واستعاره میگردیم که حقیقت‌را ازیاد کشیده دردرهٔ موهومات قدم می زنیم .

مثلاً درتعریف یك باغ‌برای اینکه عبارت را بیش ازبیش ادبی وبدیع سازیم یك لك‌رقم درخت درآن بطور تشبیه واستعاره غرس مینمائیم. بدون اینکه لحظهٔ ایستاده شده به‌بینیم آیا که‌امکان دارد یك‌درخت نارنج‌را ازجلال آباد کنده درکدام باغ درکوهدامن بنشانیم ؟ یایك درخت رابر را از یك منطقهٔ گرم مرطوب کنده به یك علاقهٔ سرد وخشك نقل دهیم ؟ آیا یك درختیکه مانند سرو یاارچه مدام درکوه های بلند پر از سنگ سمت جنوبی میروید ممکن است دریك زمین‌پست وهموارمانند چاردهی نمو کرده میتواند ؟ یا اگر فضای یك همچنین باغ را توصیف می کنیم هزار رقم پرنده را در هوای آن به پرواز می‌درآریم . سار ، بلبل، مینا ، باشه وشاهین همه‌را درآن جامی‌دهیم . غافل ازینکه اگر باشه وشاهین در همچنین‌یك‌باغ جای بگیرد درظرف چندروزتخم میناوسار وهزار را ازبین برمی‌دارد . ودیگربال وپراین مرغکان می‌سوزد که درآن باغ به آزادی پر زنند . انواع این فرضیات شاید درادبیات فارسی ازروی مبالغه که‌ازمحاسن کلام شمرده میشود قابل جواز باشد مگر در دامان طبیعت از حقیقت بس‌دوراست .

(باقی دارد)

رجب خان و بینوا

رجب خان : بینوا بیادر مبارك مثلیکه بانوا شدی که میوه دانی خریدی ؟

بینوا : نی رجب خان از کجا، ای مهربانی ادارهٔ انیس اس که ده مسابقی نهال شانی مره داده .

رجب خان : میوه دانه به نهال شانی چه غرض ؟

بینوا :- ازخاطریکه ای نهالها میوه کنه باز دهیش بخوریم .

خانه سامان واسپ سوار !

خانه سامان : کجا میری او اسپ سوار !
اسپ سوار : ناعلاج استم وردا شتیمه
رجب خان:ای بیچاره ملامت نیس گناه از موتروانهاس

بایسکل سوار



به بخش رجب خان که مه نو بایسکل یاد میگرم

پسر وپدر

میتی‌را جهت دفن میبردند .

پسر ازپدر : ـ آغاجان ای مرده را کجامیبرند

پدر : ـ بچیم ای ره جائی میبرند که نه بستره اس نه‌نان اس ونه‌چراغ .

پسر : ـ خی‌چرا نمیگی که دخانه ما میبرن .

مجله په‌نوم ئې ځی

ـ خیر کم خوادې مجلی پنه کړی دی

ـ داخو په‌انجمن کښ‌د..... مجله پاتی‌ده

ـ هغه خو دایو کال کیږی چه‌له انجمن‌نه‌تللی دی

ـ پروانه کوی نوم خوئی نه دی تللی

یک ساعت ورزش دماغ



جائزه :

څوك‌چه دامعمالمړی حل کړی اوتش ځایونه ډك کړی دصحافت دڅانگی له خوایوه سالنامه ور کول کیږی :

« بینوا »

دمعما تصحیح :ـ په‌دې‌پور ته‌معما کښ (ح)چه دنون‌وارخ‌لیکلې شوې‌ده (خ)دی ولوستل شی (ح)نه‌ده

n las

de

اعلان

پښتو ټولنه وټولو ښاغلو هموطنانو ته اطلاع ورکوی، چه لاندینی مواد که د هر چا سره وی پښتو ټولنه ئې سره له ډېری (کورودانۍ) د حق الزحمې په مقابل کښې قبلوی:

۱:- د پښتو د پخوانیو شاعرانو سوانح او د هغو قلمی او شعری آثار (په تېره بیا هغه چه اوس ئې نوم ورک دی)

۲:- د پښتو لنډۍ او ملی ترانې.

۳:- د پښتو قصې او روایتونه.

۴:- د پښتو متلونه.

۵:- د پښتو نادر لغتونه په مقابل کښې د هغو لغتو چه نن په پارسی یا عربی مستعمل دی.